(د کوچنیانو لپاره ګټورې کیسې)

انسان په نااشنا جزیره کې



عبدالقیوم مشوانی

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

کوچنیانو لپاره کوری قصې

انسان به ناآشنا جزیره کې

عبدالقیوم مشوانی

PROPERTY OF
ACKU
11315

بسم الله الرحمن الرحیم

دکتاب ځانګړني

+۹۲-۹۱-۲۵۶۴۵۱۳

دکتاب نوم	:انسان په نااشناجزیره کې
	:عبدالقیوم مشوانی
شمیر	:۱۰۰۰-ټوکه
خپرندوی	:دانش خپرندویه ټولنه
کمپوز	:وحیدالله وردګ

دچاپ او کمپیوټر ځای

دانش کتابتون ،قصه خوانی بازار ،پیښور

ph:2564513\ E.mail:danish2k2000@yahoo.com

انسان په نا اشنا جزیره کې

ډېره پخوا مهال و.

په هغو ورځو کې په سمندر او بېړۍ کې سفر اسان کار نه و. د بادبان ساده بېړۍ وې چې د هغو واګې هم د باد په واک کې وې. کله چې به باد نه لګېده او یا به باد پر مخالف لور لګېده نو ماڼوتوب (بېړیواني) به ستونزمنه وه.

بېړۍ به په لیریو اوږدو سفرونو کې ډېرې ځنډنې خپلو ځایونو ته رسېدې او که سمندر به توپاني کېده نو د بېړۍ د ډوبېدو وېره به زیاتېده. له همدې امله ځینې وګړي چې له سمندره به لیرې وو او سمندر به یې نه و لیدلی له سمندري سفرونو به وېرېدل او چې ډېر به اړ نه وو نو په بېړۍ کې به نه سپرېدل، خو هغو کسانو به د سمندر سفرونه کول چې د سمندر په غاړو کې به ډېره وو او د سمندر او بېړۍ سره به اشنا وو.

له همدغو اشنا کسانو څخه چې هغه مهال له سمندر او بېړۍ سره اشنا وو، یو هم اڅک و. اڅک د هند د یوې لویې ټاپووزمې اوسېدونکی و. د اڅک کورنۍ د هغه له مېرمنې، پنځلس کلن زوی (سنک) دولس کلنې لور او یوه یو کلن کوچني زوی (لالک) څخه چې لا تر دغه مهاله یې تی روده، جوړه وه.

د اڅک کور د سمندر د څنډې په یوه ښار کې و. خو د اڅک ژوند زیاتره په سمندر کې تېرېده. یوه باروړونکې بېړۍ یې درلوده چې کار وبار یې پرې کاوه له یوه ساحله به یې بل ته تګ راتګ کاوه کله چې به خپل ښار ته راتژدې شو نو څو ورځې به له خپلې کورنۍ سره پاتې کېده او بیا به سفر ته وت.

اڅک یوه ورځ کور ته راغی او خپلې مېرمن ته یې وویل: "پوهېږې چې څه راپېښ دي؟"

مېرمن یې وویل: "کومه نوې خبره ده؟"

اڅک وویل: "یو کار راپېښ شوی دی. باید له سمندره پورې وځم له سمندره پورې غاړه په لوديزو څنډو کې خپله دنده ترسره کړم او بېرته راوګرځم نو ستونزمن سفر دی او له تاسو څخه د لیرې والي زخم هم نه لرم."

مېرمن يې وپوښتل: "سفر څومره ورځې نيسي؟"

اڅک وويل: "الله پوهېږي. په دې پورې اړه لري چې هوا ښه ده او که. په لاره کې ځنډېږم او که نه؛ خو په هر حال درې څلور مياشتې او يا لا زيات وخت نيسي."

مېرمن يې وويل: "له دې سفره تېرېدای نه شې؟ څه وچکالي خونه ده!"

اڅک وويل: "هېښنده خبره کړې، وچکالي نه ده خو کار نه شته او ډېره ګټه په ليرې سفر کې ده. په ليرې لاره کې د بار کرايه هم ډېره وي. زما کار خو له سمندر سره دی که زه له سمندره وېرېدای نو ما به ماهوتوب نه کاوه."

د اڅک زوی او لور وويل: "بابا رښتيا وايې"

مېرمن يې وويل: "د وېرې خبره نه ده، خبره د سمندر خطر دی. وايي د سمندر منځ زښت ډېر خطري دی. نو چې له توانه يې پوره وي انسان بايد له خطره ځان وژغوري."

زوی او لور يې وويل: "د مور خبره سمه ده."

اڅک وويل: "که څوک وغواړي چې د خطر په اړه فکر وکړي نو خطر هر چېرته شته، په ځنګل په دښته، په غره او په ښار کې هم خطر شته. خطر يوازې د سمندر شتمني نه

ده. په غره کې زمریان او لېوان شته، واوره او ساړه پکې شته او په ښارونو کې بې اتفاقي او اختلاف شته. نو که د بېرې د ډوبېدو فکر هم وي پروا نه کوي ځکه ښایي ببرې یوه ورځ ډوبه شي. په ښار او کلي کې هم ښایي انسان له پوړۍ راولوېږي او یا په خونه کې د سکرو په لوګي زهرجن شي. ښایي په لړه بې پروایۍ کور اور واخلي په هر حال انسان خو تل ژوندی نه وي تر هغه مهاله چې ژوندی وي باید زړن وي. احتیاط ښه دی خو که څوک وغواړي له خطره ووېرېږي نو باید هېڅ کار ته لاس ور ونه غځوي موږ سره خو هم څه هېوادونه اجاره نه دي. باید کارو ژوند وکړو. کارګر باید په خپل کار کې زړن وي، سوداګر او ماڼو هم په همدې ډول د شاعر په وینا:

تا صبر تر سنده دل لرزنده جان

در جهان نه سود بیند نه زیان

او هغه چې وایي "دریابي زړه" هماغه زړه دی چې باید زه یې ولرم. دریابي زړه د سمندر له خطره نه وېرېږي.

د اښک لور او زوی وویل: "بابا سمه خبره کوي"

مېرمن يې وويل: "نو تا په خپله پرېکړه کړې، هيله منده يم چې الله ټولو ته خبر راپېښ کړي نور څه وايم."

اڅک وويل: "خبره دا ده چې په دومره وخت کې زه له تاسو جلاوالی نه شم زغملای نو غواړم چې ټول سره په ګډه ولاړشو او کار ترسره کړو. د سمندر ننداره وکړو. په څو نويو ښارونو کې وګرځو او په ګډه په خير سره را ستانه شو."

د اڅک لور او زوی وويل: "بابا د سمندر ليرې او اوږد سفر. د نويو ښارونو او نويو ځيزونو ننداره! ډېر خوندور دي."

مېرمن وويل: "دا هرڅه ښه دي خو زه کوچنی زوی لرم نو په يوه باروړونکې بېړۍ کې څنګه د دې کوچني پالنه وکړم. نارينه د کوچنيانو د پالنې له ستونزو سره اشنا نه دي."

اڅک وويل: "ياني څه؟ زه خو نه غواړم چې کوچنی په اوبو کې ايله کړم. زما الله د هغه الله هم دی. زه اڅک يم، ته د اڅک مېرمن يې. دا دوه کسه د اڅک لور او زوی دي، کوچنی هم د اڅک د سترګو تور دی. انسان دی او د نورو انسانانو په څېر په بېړۍ کې سفر کوي. بېړۍ هم لکه کور هسې ده نو څه پروا کوي، هر څه ته چې مو اړتيا وي هغه

ورسره باروو او چې کله ټول سره يو ځای يو نو زما زړه به کرار وي. تا به تل ويل چې نارينه هېڅکله په کور کې نه وي. نو زه غواړم چې دوه درې مياشتې په کور کې يم او زما کور بېړۍ ده."

مېرمن وويل: "زه څه نه وايم، څه چې د الله اراده وي کېږي. ستا پر ملګرتيا خوشاله يمه."

د اخک لور او زوی وويل: "موږ هم خوشاله ياستو. موږ هم غواړو چې نوي ښارونه او نوي څيزونه ووينو."

تګ ته چمتو شول د اړتيا وړ شيان يې ورسره بار کړل. د يوې مياشتې لپاره يې خواړه او خوړې اوبه هم په بېړۍ کې زېرمه کړې. د اخک لور او زوی هم خپل کتابونه، کتابچې د انځورګرۍ څيزونه او د لاسي کار سامان راغونډ او ترتيب کړل. سبا ته يې د خپلو ملګرو ګاونډيانو او اشنايانو څخه د دوو مياشتو لپاره خدای په اماني واخيسته او بېړۍ له ساحله روانه او د هند په سمندر کې يې لاره خپله کړه.

هوا ښه او سمندر آرام و. له اړتيا سره سم باد لګېده. بېړۍ د هيلۍ په څېر د اوبو سينه څيرله او وړاندې روانه وه. اخک مېرمن او بچيان يې خوشاله وو.

سبا غرمه مهال یوې کوچنۍ جزیرې ته نږدې شول. اڅک بېړۍ ساحل ته ورڅنډې ته کړه په تیره پورې یې وتړله او په تکلیف سره په ټاپوزمه کې پلي شول. اڅک سپارښتنه وکړه چې زه نه پوهېږم چې دا کوم ځای دی او انسان، حیوان یا بل څه شته او که نه، نو چمتو اوسئ چې که کوم ځناور برید وکړي باید مخه یې ونیسو او که خطر وو، نو باید ژر تر ژره ځان بېړۍ ته راورسوو.

بېړۍ ته نږدې غونډۍ ته وختل د شاوخوا ننداره یې وکړه. کوچنۍ ټاپوزمه وه نو ټولې څنډې یې ښکارېدې. ونې بوټې پکې لږ وو، خو ژوندي سري پکې نه تر سترګو کېدل. لږه شیبه یې هلته تېره کړه خو لمر ډېر تود و نو بېرته ستانه شول او بېړۍ یې روانه کړه. څو ورځې مزل یې وکړ او بله ټاپوزمه یې ونه لیدله. هر لور ته چې سترګو کار کاوه سمندر و او اسمان. د اڅک کوچنۍ بېړۍ هم په خپله لاره روانه وه.

یو ګهیځ وربځې وګرځېدې اورښت پیل شو او تر غرمې وروسته سمندر توپاني شو. د بېړۍ بادبان یې راکښته کړ خو بېړۍ د بوس د خلي په څېر د سمندر په څپو کې کښته

او بورته کېده. د اخک اولادونه لړ لړ ووېرېدل او مور یې ووېل: "د سمندر بدي همدا ده خو په وچه کې دا خبرې نه شته."

اخک ووېل: "دا خو ښه دي، تاسو سمندر نه دی لیدلی ژر نا ارامه کېږئ. انسان چې څه شی لړ لیدلي وي هغه ورته نا اشنا ښکاري. ما دا توپانونه او څپې ډېرې لیدلې دي. یو ساعت دوه وروسته کرارېږي. خو په وچه کې هم زلزلې، اورونه او ډېر نور څیزونه شته. خو چې سمندر کراره شي نو بیا به ووینئ چې تر توپان وروسته کراري څومره خوند لري. اوس خو بېړۍ ښخې د کوچني زانګو ته ورته ده چې د کوچني د ارام لپاره یې زنګوي. کله چې کوچنی د زانګو پر زنګېدو خوشالېږي نو مور ولې د بېړۍ په خوځېدو خواشیني شو. وګورئ زما کوچنوټي څنګه خوشاله او شوخ دي."

د اخک کوچنی زوی رښتیا خوشاله و او په داسې حال کې چې ټول خواشیني شوي وو هغه خندل او شوخي یې کوله.

یو ساعت وروسته سمندر آرام شو. او ورښت ودرېد نو بیا یې د بېړۍ بادبان ودراوه. او اخک ووېل: "همدغه و

چې پای ته ورسېده. نو که چېرته توپان هرو مرو ببرېږي ډوبولای هېڅ ببرې به د اوبو پر مخ نه وای پاتې."

زوی او لور يې وويل: "تاسو ښه پوهېږئ خو موږ ډېر وويرېدو."

اځک وويل: "تاسو هم پوهېږئ، تاسو تر اوسه له سمندر سره اشنا نه ياست وروسته بلدېږئ چې څنګه ونه ويرېږئ. بې تجربه کس له هر څيز څخه ژر ويرېږي، خو ژوند لږې زړورتيا ته اړتيا لري."

نوري پنځلس ورځې هم ووتې، په دغو ورځو کې څو تاپووزمه ته نږدې شول خو پلي نه شول له تورو تيږو څخه جوړې شوې کوچنۍ کوچنۍ تاپووزمې وې. اځک وويل: "دا اورغوځونکي غرونه دي. که مړه شوي نه وای نو ورو ورو په لويو تاپووزمو اوړېدل چې ښايي د هستوګنې ځايونه يې رامنځ ته کړي وای. څو ځله بيا هم باد او توپان پيدا شو خو بيا څوک ونه ويرېدل. اکثر وختونه ببرې داسې کراره روانه وه چې ان په لوښي کې اوبه هم نه خوځېدې: خو لا ډېره لاره په مخ کې وه.

یوه شپه بیا سمندر توپاني شو. هوا د ورېځو تیارو نیولې وه. د سمندر خطرناکو څپو بېړۍ کښته پورته کوله. نابېره یوې ځواکمنې څپې بېړۍ پورته کړه او په اوبو کې یې داسې راوویشته چې د بېړۍ دېوال سوری شو بېړۍ ته اوبه ورننوتې.

اڅک پوهېده چې څه ورپېښ دي، نو ویې ویل: "بچیانو مه وېرېږئ هېڅ خبره نه شته. بنایي بېړۍ هم ډوبه شي؛ خو موږ باید ځانونه وژغورو. د انسان ژوند تر هر څه ډېر مهم دی. څنډې ته دومره واټن نه دی پاتې دلته نږدې دی. ټول د ژغورنې بېړه ګۍ ته ځانونه ورسوئ."

اڅک درواغ ویل، څنډه ډېره لېرې وه خو هغه غوښتل چې ملګري یې هک پک نه شي او ونه وېرېږي یوه کوچنۍ بېړه ګۍ ورسره وه. بېړۍ ورو ورو په اوبو کې ننوته او د سمندر څپو هم په ټولو سرو ګرځول. ټولو ځانونه بېړه ګۍ ته ورسول. په داسې وختونو کې چې د مړینې خبر په مخ کې وي هر څوک د ځان ژغورلو په غم کې وي او نور هر څه ترې هېر وي. وروستی کس چې بېړه ګۍ ته وروړسېد مېرمن وه. هغه خپل کوچني ته شیدې ورکړې او په زانګو

کې یې ویده کړی و، ځکه نو یې غوښتل چې زانګو بېړه ګۍ ته ورسوي، خو د سمندر څپو او د بېړۍ خوځېدو دغه کار ستونزمناوه. په وروستیو شېبو کې چې د اشک زوی او لور له خپلې مور سره مرسته کوله او هغه یې له لاس او جامو څخه رانیولې وه، نابېره یوې څپې د مېرمن له لاسه زانګو خوشې کړه او د اوبو پر سر پاتې شوه د بېړه ګۍ او زانګو تر منځ واټن پیدا شو.

مېرمن چیغې کړې: "اشکه زانګو ونیسه. الله بچی مې تا ته وسپاره." د دې خبرې سره سمه په بېړه ګۍ کې بې سده ولوېده. اشک ډېره هڅه وکړه چې بېړه ګۍ زانګو ته ورنژدې کړي خو ونه شوه. د بېړۍ واګې یې له لاسه وتلې وې او د څپو په واک کې وې. زانګو هم په خپله د یوې اوښتونکې راوښتونکې بېړه ګۍ په څېر په اوبو کې ګرځېده او ساعت په ساعت یې له بېړه ګۍ سره واټن زیاتېده.

اشک له سمندر سره ښه اشنا اوتکړه لامبوزن و. د یا الله غږ یې وکړ او اوبو ته یې ورټوپ کړ د زانګو لور ته یې لامبو پیل کړه په څپو کې به ورک او ښکاره کېده. لاس و

پښتې یې وهلې چې زانګو راونیسي خو ګټه یې نه درلوده.

پوه شو چې په خپله هم له منځه ځي. زوی او لور یې هم چیغې وهلې "پلاره راوګرځه، پلاره راځه" اخګ فکر وکړ چې بېړه ګۍ هم له خطر سره مخامخ ده او د دریو کسانو ژغورنه هم پکار ده. کله چې پوه شو چې زانګو نه شي رانیوای نو په وروستي پړاو کې یې وویل: "الله بچي مې تا ته وسپاره. خپلې مور ته یې راوګرځوه او په خپله یې ساتندوی شې."

په ډېر کړاو یې ځان د بېړه ګۍ ژۍ ته ور ورساوه، پورې ونښت او ور وخوت. خو بېړه ګۍ چا نه شوه چلولای بلکې په خپله په څپو کې کښته پورته کېده او د کوچني له زانګو څخه یې واټن لیرې کېده. تر یوه مهاله یې زانګو تر سترګو کېده خو چاره یې ورته نه وه معلومه څه مهال وروسته یې له سترګو پناه شوه.

سبا ګهیځ چې لمر څرک راوواهه اوسمندر کراره شو نه د بېړۍ څه پته لګېده او نه د زانګو. توپاني سمندر د هغوی بېړۍ په بېله او زانګو په بېله خوا وړې وه. هغوی داسې ګڼل چې د کوچني زانګو ډوبه شوې نو تر ټولو ډېرې یې

مور چيغې ووهلې، خو پر احوال هېڅوک خبر نه وو. اخر يې ببرړه کې ځنډې ته ووته او برخليک يې معلوم شو. پنځه کسه چې په يوه ببرړه کې ناست وو، اوس څلور کسه يوې ځنډې ته رسېدلي وو ببرړه يې هم نه درلوده او لالک يې هم الله ته سپارلی و.

خو زانګو په هماغې شپه له توپانه بچ شوې وه يوې تونډ بېلې ته ورسمه شوې وه چې د سيند په څپر د سمندر په منځ کې بهېدله. په سل ګونو ميله واټن يې وواهه او يوې نا اشنا ټاپووزمې ته ورسېده، داسې نا اشنا ټاپووزمه چې تر سل ګونو کلونو وروسته هم چا نه پېژنده. زانګو د ټاپووزمې ځنډې ته ورسېده او په پستو شګو کې ونښته. کله چې د سمندر اوبه کښته شوې او اوبه پخواني حالت ته ورسېدې نو لالک يوازينی کس و چې د هغې ځمکې په سر يې ژوند کاوه. يو انسان، يوازې په يوه نا اشنا ټاپو وزمه؛ خو د الله پرېکړه وه چې دغه انسان ژوندی پاتې شي.

له حیواناتو سره د لالک هستوګنه

لمر دغه ساحل ډېر ژر وچ کړ. لګېدونکي باد د سمندر شګې ځای پر ځای کړې او کاڼي او شګې تر زانګو راچاپېره شوې. نو دا ځل چې د سمندر څپې راپیل شوې زانګو ته نه رسېدې، خو کوچنی یوازې وږی و او وږی کوچنی له ژړا پرته پر نور څه نه پوهېږي. د لالک ژړا د انسان لومړنی غږ و، چې په دغه تاپووزمه کې اورېدل کېده.

له بلې خوا هوسۍ چې خپل بچی یې ورک کړی و، سر وهلې بر وهلې یې هرې خوا ته منډې وهلې. تیونه یې له شیدو ډک شوي وو نو خپل بچی یې لټاوه. که بچی ترې نه وای ورک نو د سمندر پر غاړه یې کار نه درلود.

کله چې لنګې هوسۍ د انسان ژړا واورېده نو زړه یې پرې وسو څکه مور وه او د مورولۍ مینې د زانګو پر لور

بوتله. له ځان سره يې دا وګڼل چې پر بچي يې څه ټکه رالوېدلې ده او د هغه شکل يې هم بدل کړی دی. هوسۍ د زانګو خوا ته ورغله او پر لته اخته وه، چې انسان هم هغه څه وموندل چې غوښتل يې. هوسۍ خپل بچی لټاوه او انسان هم شيدې غوښتل.

کوچني د هوسۍ تيونه په خوله کړه ويې رودل او يمن شو. وحشي مور اهلي بچی موندلی و خو ښه دا وو، چې د دواړو زړونه آرام شول. بيا هوسۍ راوګرځېده لږه دمه شوه خو بيا يې بچی وريادشو. هر چا ته خپل بچی ګران وي. هوسۍ کوچنی يوازې پرېښود او ترې لاړه. د تاپو وزمې غونډۍ او څړځايونه يې وپلټل. د ځنګله تر څنډو پورې هم ورغله، خو هلته يې د څيرووونکيو حيواناتو غړونه تر غوږ شول، ووېرېده. بچی يې ونه مونده. ماښام مهال يې د شيدو د ډېرښت له امله تيونو درد وکړ نو لاړه شوه، چې د زانګو خواته ورشي.

کوچني ژړل خو مور او بچی بيا آرام شول.

هوسۍ په دې مور ولې خوښه وه، خو بچي يې پسې منډې نه وهلې. ويده کېده، راويښېده. لوبې يې کولې،

ژړل يې، شيدې يې روډې خو له خپلې خونې نه راوت او

ترپکی يې نه وهلې. هوسۍ ورسره هم همالته اوسېده خو

کله چې به ځرېدو ته وتله نو کوچنی به له يوازې والي څخه

ډېر نا آرامه کېده. په زانګو کې په يې ساعت نه تېرېده نو

هڅه به يې کوله چې له زانګو څخه ځان وباسي.

وايي اړتيا د ايجاد مور ده. يوازې کوچني تګ زده کړې

ته ډېره اړتيا درلوده. ډېر ژر د زانګو په کړکۍ پورې

ونښته. ډېر ژر يې درېدل زده کړل او تر هغو کوچنيانو يې

هم ژر زده کړل چې پالونکي لري. هوسۍ هېڅکله هغه نه

هېراوه او نه يې شو هېرولای ځکه هغې هم څه ته اړتيا

درلوده او کله چې به له کوچني سره اوسېده نو ډېره

خوشاله به وه.

يوه ورځ هوسۍ د کوچني خونډۍ (پېکۍ) په غاښونو

ونيوه او مرسته يې ورسره وکړه چې له زانګو څخه

راووځي. کوچني کولای شول چې په خاپوړو ولاړشي. دواړه

ډېر خوشاله وو. که هوسۍ خبرې نه شوې کولای نو کوچني

هم نه شوې کولای. هوسۍ ځانګړې غږونه درلودل چې د

کوچني سره يې پرې خبرې کړې. نو هرو مرو هر کوچني چې

څه اوري او څه ويني هماغه يادوي. په پلرونو او ميندو کې هم ښه روزل شوي پلرونه او ميندې ښه اولادونه روزي، او ناپوهه پلرونه او ميندې د ځان په څېر اولادونه روزي.
کوچني ورو ورو د هوسۍ غږونه زده کړل. هر غږ ځانګړې مانا درلوده، کله به هوسۍ وږې وه، کله به مړه وه، کله به خوشاله وه، کله خواشينې، کله به وېرېده، کله به يې له کوچني سره ساعت تيرې کوله او کله به يې کوچنی له ځانه جلا کاوه نو کوچني به دغه ټول زده کړل.

هوسۍ له انسان سره چې نور يې خپل بچی ګاڼه مرسته وکړه او هغه يې خپل هستوګنځي ته بوت. د هوسۍ هستوګنځی د غونډۍ په منځ کې يو تياره سمڅه وه، خو د هوسۍ تېز نظر پکې کار کاوه. انسان هم ورسره روږدي شو. کله چې يو کس له څه شي سره روږدی شي، ژر د هغه په ښېګڼو او بدګڼو نه پوهېږي.

کله چې انسان اسانتياوې ولري نو نازکه رالويېږي، خو چې کله اسانتياوې ونه لري نو ځيګ او کلک رالويېږي ځکه خو د ښار او کليو او باندو وګړي سره توپيرونه لري.

هر څوک له خپل چاپېریال رنګ اخلي. انسان هم له نوي چاپېریال سره مینه پیدا کړه او له دې پرته چاره نه وه.

د ورځې به هوسۍ په ځړځایونو کې څرېده نو انسان به یې هم له ځان سره بوته خو هغه به وابښه نه خوړل. تر هغه مهاله چې هوسۍ شیدې کړې، خو چې کله شیدې لړې شوې، کوچنی اړ شو چې مور ته وګوري نو د وښو خوړل یې زده کړل. وابښه به یې خولې ته کړل خو بې خونده به وو نو ویل به یې خوند یې ښه نه وو. هغه یو، ښه نه و. هغه یو، ښه و. دا یو بابه غږ به یې وکړ. کاهو، ګني د تېپرو پاڼې، ګیدړکور، دنیا، پاتنګړ او نورې ډېرې خوندورې سبزیانې یې وپېژندلې. شیدې بشپړ خواړه وو، هم خواړه وو او هم اوبه وې. خو نور خواړه تنده هم را زېږوي. کله چې به هوسۍ چینې ته د اوبو څښلو لپاره ورتله نو دواړه به سره ملګري وو. انسان لوی شوی و او دا یې زده کړي وو، چې په سمه لاره لاړشي. خبرې یې نه شوې کولای خو د هوسۍ په غږونو پوهېده. لږ لږ پوه شو، چې: "دا هوسۍ ډېره ساده ده. تل په یو ځای کې اوبه څښي، تل په یو ځای کې څرېږي. د ونو د ښاخونو له خوځېدا څخه وېرېږي. او

ډېره تونده ځغلي چې زه ورسره نه شم ځغاستی خو تیرو ته

ورپورته کېدای شم، ونو ته ختلای شم خو هوسۍ چې پښې

یې سوې لري نه شي ورختلای. نو ولې هوسۍ سوې لري او

زه ګوتې؟!"

په دې نه پوهېده. داسې یو مهال راورسېد، چې انسان

له خپلې رضاعي مور سره مرسته وکړي له ښکرو څخه به

یې نیوله او لوړو ځایونو ته به یې ور پورته کوله. د هوسۍ

په ژبه به یې ورته ویل: "راځه،مه وېرېږه، نه غورځېږې. ما

نیولې یې."

لږ لږ نور هم پوه شو، چې هوسۍ په سمڅه کې بچې

کوي خو بوی یې ډېر بد نه دی خو د ده خپلو بوی ډېر بد

دی. له همدې امله یې یوه ورځ سمڅه پاکه کړه بیا به هره

ورځ د صحرا لپاره بهر ته وت. انسان حیران و، چې دا ولې

نه پوهېږي؟ هوسۍ په ځینو څیزونو نه پوهېده او نه

ښایېدې چې پر خپلو ټولو هیلو هغه وپوهوي.

انسان د هغې د پوهولو لپاره پرمعمولو غږونو ځینې نور

غږونه هم له ځانه جوړ کړل: "آی، های..." او "آ ، یو" خو

ګټه یې نه درلوده. هوسۍ پر یادو کړیو سربېره نور څه نه

شو یادولای. د انسان په خیال "آی ، های" یانې خندې ته شه، او "آ ، یو" یانې بېرته راوګرځه. خو هوسۍ نه شو یادولای.

هوسۍ یوازې په خوراک، څښاک، تګ راتګ او ځان ساتنې پوهېده؛ خو انسان په دې څیزونو قانع نه و. له ځانه سره یې فکر کاوه "ولې ذا هوسۍ هېڅ وخت ونې ته نه خېژي؟ آها رایاده شوه. هوسۍ سوې لري نو نه شي کولای چې ونې ته وخېژي. ښه نور ولې د هغه لوی ځنګل خوا ته نه ورځي او ما هم نه بیایي؟ ولې اوبو ته نه ورځي چې ځان ومینځي. ولې..." او داسې نور ډېر فکرونه؛ خو څوک نه و، چې هغه ته ځواب ورکړي نه هغه خبرې کولای شوې او نه هوسۍ دغه فکرونه درلود.

ټاپو وزمه ډېره لویه وه. هرې خوا ته یې ونې بوټي درلودل، یوازې انسان پکې نه و. او د انسان بچی نه پوهېده چې انسان او حیوان څه توپیرونه لري. خو دومره پوهېده چې دی د هوسۍ په پرتله ډېر پوهېږي او په دې هم پوهېده چې دې هوسۍ ته اړتیا لري: د هغې مینې، ملګرتیا، غېږ، د هغه د بدن تودوخې ته.

دوه کاله یې په ټاپو وزمه کې تېر کړي وو. د انسان د بچي جامې له منځه تللې وې. د لمر تودوخې یې د بدن پوستکی تور اړولی. د سر وېښتان یې اوږده شوي وو. غوږوو او سره نښتي وو. کله چې به چینې ته د اوبو څښلو لپاره ورتلل نو د هوسۍ او خپل انځورونه یې په اوبو کې لیدلي وو. هېڅ ورته والی یې نه درلود: خو پر هغه هوسۍ ګرانه وه. هوسۍ یې مور وه او یوازینی کس و، چې له هغه سره و او د هغه سره یې مینه کوله.

هلته به د شپې د وېروونکیو حیواناتو غږونه تر غوږو کېدل خو د انسان بچی د خپلې مور په څنګ کې له هېڅ شي نه وېرېده. ورځ ښه وه چې رڼا وه. لمر ښه و او هومره ښه چې ټول ځایونه رڼا کوي او تودوي؛ خو چې کله لمر پرېوځي ټول ځایونه تیاره او ساړه وي. نو د انسان بچي له لمر سره ډېره مینه درلوده او هومره به یې ورته کتل چې سترګې به یې وروسوې نو بیا به یې بس کړل.

کله ناکله به یې هلته نور حیوانات لیږي یا نژدې لیدل لکه غرڅه، ګیدړ، شکونړ، پیشو، ډینګ، چرګ او نور لیدل خو یوه هم له هوسۍ سره ملګرتیا نه درلوده او هغې

ته ورته هم نه وو، ان چې له ځينو څخه خو يې هوسۍ هم وېرېده.

د انسان بچې دا تجربه زده کړې وه چې که لاسونه وپړقوي نو د غږ له اورېدو سره سم حيوانات تښتي. ځينې الوتونکي مرغان به هم تلل راتلل. هغه به له هوا راکښته کېدل، په ځمکه به کښېناستل، دانې به يې ټولولې او بيا به الوتل. هوسۍ له هغو څخه نه وېرېده نو د انسان زوی تري هم نه وېرېده. هوسۍ به د هغوی تګ راتګ ته پام نه و خو چې کله به هغه يا د انسان زوی ورنږدې شو نو هغه به الوتل.

په دې الوتونکيو کې خو کوترې هم وې چې د پرې به دوی ته ورنږدې کېدې. کله به د هوسۍ پر ښکرو کېناستې او يا به د انسان د زوی خوا ته ګرځېدې. د انسان زوی هڅه وکړه چې يوه کوتره ونيسي خو هغه ترې والوته. د انسان زوی نه پوهېده چې دا څه شی دی او پر ځمکه څه لټوي.

يوه ورځ ورته ښه ځير شو ويې ليدل چې هغه د ځمکې له مخه کوچني ځيزونه راټولوي اوخوري يې. هغه د ځمکې پر مخ هغه ځيزونه وپلټل او ويې پېژندل:

PROPERTY OF ACKU
11315

ویې ویل: "عجیبه ده دا الوتونکي دا ځیزونه خوښوي!"

کله چې د انسان زوی کوتره نه شوه نیولای نو د ښېګڼې کولو تکل یې ورسره وکړ. هغه کوترې خوښولې نو خدمت او ښېګڼه د خوښې نښه ده. د انسان زوی هم څه دانې راټولې کړې او کله چې دا ځل کوترې راغلې نو د هغوی مخې ته یې واچولې. کوترې خوشاله شوې او د دانو په خوړلو یې پیل وکړ. د انسان زوی په دې کار خوشاله شو. د ښېګڼې پایله تل خوشالي وي. بیا یې همدا کار وکړ او کوترو دانې بیا وخوړلې او وېره یې ورو ورو لږه شوه. را وړاندې شوې او د هغه د پښو له منځه یې دانې وخوړې. یوه ورځ دانې لا د انسان د زوی په موټي کې وې چې یوه کوتره راغله چې د هغه په لاس کې دانې وخوري. د هغه چې کوترې خوښې وې پښې یې ورته ونیولې. کوترې وزرې وپړکولې چې والوځي خو بریالۍ نه شوه.

د انسان زوی کوتره په خپل تټر پورې ونیوله. بدن یې تود او پوست و. لمر په غړ غړو وو. هغوی هم خپلې سمڅې ته راستنبدل. کوتره یې پرېښودو راېې وړه او په سمڅه کې یې پر ځمکه خپل څنګ ته کېښنوله. کوتره ځای پر ځای لږه

تاو راتاو شوه. یوازې وه لږ غړونه یې وکړل "ګوګشتو، ګوګوشتو، غور غور" غړونه د انسان د زوی خوښ شول یاد یې کړل. د هوسۍ هم دا کارونه بد نه ایسېدل او له دې کارونو سره یې کار نه درلود.

شپه پخه شوه هغوی هم ویده شول. ګهیځ چې رڼا خپره شوه او د انسان زوی راویښ شو څه ګوري چې کوتره نه شته. کوتره په رڼا کې الوتې نو ولې د شپې نه الوته د انسان زوی په دې نه پوهېده. سبا یې بیا هم هڅه وکړه چې کوتره ونیسي او ویې هم نیوه. دا ځل یې راوړه په سمڅه کې یې پر ځمکه ایله کړه کوتره سمدواره والوته. هله پوه شو چې کوتره د شپې نه شي الوتی. خو په دې هم تر دغه مهاله نه پوهېده که چېرته د کوترې پښې وتړل شي نو بیا نه شي الوتی. دا یې له چا زده کړې وای؟! هېچا د چا پښې نه وې تړلې چې هغه ترې زده کړې وای.

یوه ورځ یو پېښه وشوه:

ګهیځ وختي و. هوسۍ د باندې وتې وه او هغه لا ویده و. هوسۍ هېڅکله هغه نه راویښاوه؛ خو هغه چې به کله وختي راویښ شو نو هوسۍ به یې راویښوله. په دغې ورځ

يې نابېره يو ويروونكى غږ تر غوږو شو "هپ، هپ... هپ هپ" هوسۍ هم له وېرې راتښتېدلې وه او د سمڅې په خوله کې د خپل بچي مخې ته ولاړه وه. د انسان زوی غوښتل چې ور وځي خو هوسۍ يې د سر وېښتان په غاښونو ونيول او پرې يې نښود. هغه هېڅكله سپى نه و ليدلى او اوس په دغه ځاى سپى يرغل كړى و. سپى سمڅې ته رانږدې شو ډېر بد غږ يې درلود. د انسان زوى نه پوهېده چې سپى څه غواړي. هوسۍ بچى سمڅې ته وردننه كړ او په خپله د سمڅې خولې ته ورمخكې شوه. سپى راوړاندې شو خو هوسۍ په ښكرو سپۍ وواهه له وهلو سره سم سپى خوږ شو وكوړنچېده او وتښتېده. د انسان زوى دغه حال ليده ويې ويل: "عجيبه ده! هپ هپ ياني كله چې څوک چا ته زيان رسول غواړي نو وايي هپ هپ؛ خو هوسۍ ولې هپ هپ ونه كړ؟".

د انسان زوى د سمڅې خولې ته راووت د سپي پېښې يې وكړې: "هپ هپ" سپي هم بېرته ورته راوهپل خو په خپل ځاى كښېناست او مخكې رانغى. هوسۍ هم د انسان زوى ته په غوسه ور وكتل. د انسان زوى هوسۍ ته مخ كړ

او بیا یې هم وویل: "هپ هپ" هوسی ورته ښکر راواړول او ویې ویل: "دا څه مانا لري چې زما بچی دې د سپي غپا کوي."

د انسان زوی غلی شو ور وړاندې شو او په خپله له هوسۍ څخه چې یې ښنګه یاد کړي وو په هماغه ډول یې هغه دلاسه کړه. په دې ځای دا خبره پای ته ورسېده خو دومره پوه شو چې هپ هپ د هوسۍ بد ایسي. "هپ هپ" یانې زه درسره جوړ نه یم.

بیا بهر راووت نو ویې لیدل چې هماغه سپی پر کوتره برید کړی او کوتره یې نیولې. سپي په پنجو کې کوتره نیولې وه او په خوله یې ترې سر پرې کړ. ښکې یې ترې لیرې کړې او غوښه یې ورنه وخوړله. د انسان زوی راغی هوسۍ یې له ښکره راکښه د سمڅې خولې ته یې راوسته په لاس یې کوتره او سپی ور وښودل. غوښته یې چې هغه وپوهوي، وګوره چې کوتره یې هم وخوړله؛ خو هوسۍ په څه نه پوهېده. بیا د انسان زوی له ځان سره داسې فکر وکړ چې سپي غوښتل چې هوسۍ وخوري او ښایي ما هم هوسۍ وخوري. بیا یې فکر وکړ چې "نه" هوسۍ ډېره ښه ده. هغه

بېخي کوترو ته ګوري هم نه نور دي چې ښه نه دي او يو تر بل سره خوري."

د انسان زوی هره ورځ نوي ځيزونه زده کول. اوس نو پنځه کلن و او پر ډېرو ځيزونو پوهېده. پوهېده چې هوسۍ سوې لري او ښکرونه. وابښه خوري خو حيوانات نه خوري او الوتلی هم نه شي. کوتره وابښه نه خوري، دانې خوري وزرې او ځانګو نه لري او د نورو مرغانو په څېر الوځي. سپی کوتره خوري خو سپی سوې نه لري او ګوتې هم نه لري. پنجې لري. نو يو ځل بيا يې خپلو ګوتو ته وکتل او فکر يې وکړ: "زه تر ټولو غوره يم، هغوی ټول په غابښونو ځيزونه نيسي خو زه په خپلو لاسو ډېر کارونه ترسره کولای شم."

هوسۍ نو نوره لږه زړه شوې وه نو د تل په څېر په صحرا کې نه شوه ځغاستی خو د انسان زوی نوی ځيرک شوی و. يوه ورځ هوسۍ ناروغه شوه. هغه د هوسۍ پر غږ پوهېده. هوسۍ په دغې ورځ په سمځه کې پرته وه او ويل يې: "وږې يم، وږې يم" د انسان زوی د هوسۍ ښکرونه ونيول چې هوسۍ پورته شي خو هغه پورته نه شوه او غږ يې کړ چې: "نه شم پاځيدای، ښه نه يم"

د انسان د زوی زړه پرې وسو فکر یې وکړ او پوه شو چې هوسۍ وږې ده، د څر لپاره صحرا ته هم نه شي تللای خو که وابنه دلته وي نو خوړلای یې شي. نابېره یې له خوشالۍ څخه لاسونه وپړکول او له سمڅې راووت. فکر یې وکړ چې: "لکه څنګه چې مې کوتره سمڅې ته راوړه، هماغسې وابنه هم راوړلای شم، تر اوسه مې ولې دا کار نه کاوه؟" په منډه صحرا ته لاړ هوسۍ چې کوم وابنه خوړل له هغو یې څه ګېډۍ جوړه کړې رایې وړل او د هوسۍ مخې ته یې واچول او د هوسۍ په ژبه یې وویل: "مهرباني وکړئ." دواړه خوشاله شول. د انسان زوی فکر وکړ: "دا ښه کار دی تا یو مهال ما ته شیدې راکول زه به اوس تا ته خواړه درکوم." له هغه مهاله راوروسته د هغوی د سمڅې یوه برخه د خوړو ګودام شو. د انسان زوی د وښو راوړه زده کړې وو نور نو د دې اړتیا نه وه چې هوسۍ صحرا ته لاړه شي او هلته وڅري، خو اوبه څرنګه؟ هغه خو په لاسو کې نه شي نیول کېدای. تویېږي او نه پاتې کېږي. "کاشکې د اوبو یوه چینه دلته وای." تر لږ غور و فکر وروسته وریاد شول چې کله باران شوی و نو د کدو په پوستکي کې لږې اوبه راټولې

شوي وي نو ښايي چې د کدو پوستکی کورته راوړی شي.
"که هوسۍ اوس صحرا ته نه شي تللای نو زه ورته هر څه دلته راوړم، هغه له وښو او اوبو پرته نور څه نه غواړي." بیا یې له ځانه سره وویل: "د دې نرۍ وګړي څومره ساده دي. په هیڅ کار نه پوهیږي او هیڅ نوی کار نه کوي. همدا هوسۍ وګوره که زه نه وای نو خدای خبر چې له تندې به یې څه کول؟"

بله ورځ سپی او کوتره وریاد شول. دا لېوالتیا ورسره پیدا شوه چې دی هم کوتره وخوري. فکر یې وکړ دا هم داسې کار دی چې هوسۍ پرې نه پوهیږي، خو سپی پرې پوهیږي. باید تجربه شي دانې یې راټولې کړې. کوتره بېوزله یې ونیوه سر یې ترې پرې کړ. د انسان زوی ولیدل چې د کوترې وینه هم د ده د لاس د تپ د وینې په څېر ده، چې د خوړېدو پر مهال ترې راوځي. "نو کوتره به هم ډېره دردېږي. هغه هم په خپله انسان دی. څه ښکلې غږ لري او څومره لورانده ده." خو ده غوښتل چې د سپي کانه وکړي. د کوترې بدن هم تود و، خو لږ وروسته سوړ شو. ښځې یې نه خوړل کېدې. یوازې غوښه یې خو هغه هم ډېره کلکه وه.

لړه يې تري وخوړه او نوره يې د هوسۍ مخې ته کېښوده. کوتره نوره نه الوته نو څرګنده شوه چې تر کومه مهاله د حيواناتو بدن سم او روغ وي تښتي او غړونه باسي. نو دی هم بايد هڅه وکړي چې په خپله او هم هوسۍ روغه اوسي. هوسۍ د کوترې غوښه ونه خوړه.

د انسان زوی کوتره بېرته راواخيسته او دې لا ولاړ و، چې د کړس کړوس غږ يې بهر واورېد. د برېښنا او تندر اواز و. برېښنا وشوه ټول ځايونه يې رڼا کړل. د سمڅې خولې ته راووت چې ووينې څه خبره ده. يو شمېر حيوانات تښتېدل. ډېر زيات بې د سمڅې له مخې تېر شول او لاړل. بهر راووت څه ګوري چې د دورمو ډل (ځنګ) اور اخيستی او لوګی ترې خېژي. تندر د دورمو په ډل اور لګولی و، خو هغه هېڅکله اور نه و ليدلی د اور لمبو او لوګي د صحرا څه برخه نيولې وه. د هغو ننداره يې وکړه غوښته يې چې ور وړاندې شي خو ورته څرګنده شوه چې تود دی. حيران شو. باد ولګېده نو شاوخوا وچو وښو هم اور واخيسته. د انسان زوی غوښتل چې بل شوي واښه راواخلي، چې لاس يې ور وړ لاس يې ورته وسوځاوه. نو فکر يې وکړ ښايي

لمر راکوز شوی وي. پورته یې وکتل. ګوري چې لـر په اسمان کې پر خپل ځای ولاړ دی، نو داسې یې وانګېرله چې: "دا هم د لمر بچی دی او پر لوبو بوخت دی." یو نیم سوی لرګی یې مخې ته پروت و. له نالګېدلي سره یې ونیوه. بل سر یې سوځېده او لوګی تري روان و. لا هماغسې ولاړ و، چې په لاس کې یې د کوترې بڼکو اور واخیست. لاس یې نږدې سوځېدلی و نو اړ شو، کوتره یې همالته د اور په غاړه وغورځوله او د سوځېدونکیو ښاخونو په ننداره بوخت شو. د اور تودوخه یې خوښېدله. یو بل سوی یې راواخیست سمڅې ته یې راوړ. چې هوسۍ ته یې وښیي. اور سمڅه رڼا کړه: "هو دا هم د لمر بچی دی. هماغسې رڼا کوي او تودوخه لري

خو هوسۍ اور او رڼا نه هېڅ خیر نه شوه. هغه اور د هوسۍ خولې ته ورنږدې کړ چې "ووینه..." د هوسۍ خولې ته نږدې وژغنی وسوې. هوسۍ پاځېده او غږ یې کړ: "پوف، پوف" د اور لمبې مړې شوې او لوګی یې ډېر شو. د انسان زوی پوه شو چې اور د هوسۍ نه دی خوښ "خو

خنگه به ښه وای چې اور نه وای مړ او تل یې سمڅه روښانه کړې وای. نو ولې مړ شو!"

بیا راووت ګوري چې لا تر اوسه په وښو کې اور بلېږي، نو فکر یې وکړ چې: "دا ډېر دي نو ځکه بل دي او که لږ شي نو بیا مري لکه چې که وابنه لږ وي او وخوړل شي نو خلاصېږي خو په صحرا کې تل وي.

ور وړاندې شو چې بیا هم یو بل سوی پیدا کړي او راوایې خلې. د کباب بوی پرې ولګېد څه ګوري چې کوتره یې سوځي او ښه بوی د هماغې دی. هغه یې د سویو وښو له منځه راپورته کړ، توده وه لاس یې وسوځېده. په ځمکه یې وغورځوله. ښه بوی یې درلود. کله چې لږه سړه شوه نو غوښه یې هم نوره کلکه نه وه چې خوند یې ورته وځاکه چې هېڅکله داسې نه و خوشاله شوی. تر دغه مهاله چې یې هر څه خوړلي وو دا له هغو ټولو خوندوره وه، نو پوه شو چې اور دا دومره خوند ورکړی دی.

د اور ورل ترې هېر شول. له خوشالۍ څخه یې په منډه لږه غوښه هوسۍ ته ور وړه غوښتل یې چې ورته څرګنده کړي چې اوس ډېره ښه شوې ده؛ خو څرنګه ورته څرګنده

کړې؟ د اور بلېدو د غږ پېښې يې وکړې: "اششششش" يانې کوتره په اور کې پخه شوې ده؛ خو هوسۍ بيا هم ونه خوړه نو د انسان زوی فکر وکړ چې د دې هوسۍ ښخې هېڅ ته زړه نه کېږي اوهمدا وابښه او اوبه او وابښه او اوبه او همدا ..."

کله چې بيا بهر راووت باران ورېده او اور مړ و. کله چې به په سکروټو او تودو ايرو څاڅکي لګېدل نو جز جز به يې کاوه. د انسان زوی دغه غږ هم ياد کړ: جز و بز يانې اور د اوربښت له لاسه پرپوټ کوي. اور مړ شو او بيا نو ډېر وخت اور پيدا نه شو. او نه ښايېدل چې غوښه کباب کړي. پته نه لګېده چې اور چېرته دی. ولې راغی او ولې لاړ؟ او بيا به آيا د لمر بچی کله لوبې وکړي.

څو ورځې وروسته هوسۍ روغه شوه. بيا يې جوړه ګرځېدل پيل کړل. ډېر تازه وابښه خوراکونه يې وموندل خو هوسۍ هماغه وابښه خوړل، نه غوښه اونه مېوه... يوه ورځ ډېره بده پېښه رامنځ ته شوه.

د ځنګل په څنډه کې په يوه لاره کې نابېره لېوه راپيدا شو په هوسۍ يې يرغل وکړ له پښې يې ونيوله. پښه يې

تېپي شوه نو ولوېده.لېوه هم د هوسۍ په خوراک پیل وکړ. د انسان زوی وویرېده او وتښتېده. د غار په لور لاړ. پوهېده چې نوره نو هوسۍ له منځه لاړه. بیا کور ته نه راځي لکه چې ځنګه هغه کوتره بېرته رانغله.

د انسان زوی په زوره زوره ژړا پیل کړه. د غم ژړا، د مینې او ملګرتیا ژړا، د یوازیوالي او پردیسۍ ژړا. هغه بیا یوازې شو. سمه ده چې هغه اوس ډېر څه یاد کړي دي او پر ژوندانه پوهېږي. حیوانات او مرغان هم ډېر دي؛ خو ملګرې یې، همژبې یې، مور یې، هوسۍ نوره نه وه او یوازېوالی لوی غم و، خو دې لوی غم د هغه فکر لا زیات په کار بوخت کړ.

د انسان زوی عقل کاروي

د انسان زوی په سمڅه کې کېناست او فکر یې وکړ. اوس باید څه وشي: "ځینې حیوانات ډېر بد وي. نن لېوه هوسۍ وخوړه. هغه بله ورځ سپی راغلی و، چې هوسۍ وخوري او که د هوسۍ ښکرونه نه وای نو زه یې هم خوړلم، نو باید د هوسۍ ښکرونه وساتم."

بهر راووت په ډېر احتیاط سره د هوسۍ سر ته چې په صحرا کې پروت و، ورغی هغه یې راواخیست او خپلې سمڅې ته یې راوړ. هغه ته یې غږ وکړ، ډېر یې ونازاوه خو د هوسۍ سر نور هیڅ غږ او حرکت ونه کړ، په خپله هم پوهېده هغه د حیواناتو وژنې او مړینې لیدلې وې. هغه یې هماغسې خپل څنګ ته کېښود، خو خواشینی و.

د شپې ورته پته ولګېده چې هوا سړه ده او د هوسۍ په څنګ کې پخوانۍ شپې تودې وې. اوس نو د تودوخې














لپاره باید څه وکړی شي؟ هغه ته دا هم جوته شوه چې د وچو وښو پر مخ چې ویده شي نو له وښو سره لګېدلی اړخ یې تود وي، پوه شو چې دا یې د خپل وجود تودوخه ده چې وابنه تودوي. په وښو پرېوت څه وابنه یې پر ځان د پاسه هم راخپاره کړل خو سر یې ترې بهر پرېښود نو ګوزاره یې وشوه خو د شپې ویده نه شو، د یوازیوالي اندېښنو خوب ته پرېنښود. له عقله یې کار واخیست. پر ډېرو شیزونو یې فکر وکړ: "د هوسۍ ښکر د ځان ساتنې لپاره ښه دي. د شپې باید د انسان بدن پټ وي. د صحرا حیوانات ځینې ښه دي او بې ازاره لکه هوسۍ، کوتره، وزه، بانګي... او ځیني بد دي او نور خوري لکه سپی، لېوه او ځینې نور. له ښو حیواناتو سره باید ملګرتیا وي او له بدو ځان وژغورل شي. او که چېرته یرغل وکړي نو باید د هوسۍ په ښکرو ورسره مقابله وکړی شي. اور چې کله لږ وي ژر مري باید ډېر وي او باید تر اورښت لاندې هم نه وي. که چېرته اور وای نو سمڅه به هم روښانه وای او غوښې به هم خوندورې. خو اور چېرته دی؟ ښه به دا وي چې څو کوترې راوړم او په سمڅه کې یې له ځانه سره وساتم خو څه ګټه لري چې له

ګهیځ سره بېرته الوځي. هوسۍ ښه وه چې نه تښتېده او که چېرته تلله نو هم بېرته راتله..."

ګهیځ چې رڼا ولګېده د انسان زوی د هوسۍ ښکر له ځان سره راواخیست او بېر راووت لمر هماغسې تر ټولو لوړ و. لومړی د دورموډل ته ولاړ، خو د اور درک نور نه و. سکاره او ایرې هم سړې وې. له ځان سره یې فکر وکړ د شپې سوړوالی ښه نه دی رڼا او تودوخه ښه ده. سمڅه هم تیاره او سړه ده. لاس یې پر خپل ټټر کېښود. ورته جوته شوه چې تود دی نو ویې ویل: "همدا دی" لمر او اور تاوده دي او زما بدن هم هغه تودوالی لږ لري او خپل تودوالی. د لرګي او تیږې په څېر نه دی چې تر لمر لاندې تود وي او تر سیوري لاندې سوړ؛ خو اور تر ټولو تود او روښانه دی دومره تود دی چې له نږدې څخه خو لاس هم سوځي.

د انسان د زوی ټول سوچ له دې سره و، چې اور ومومي، خو له کومه ځایه؟ او دا معما تر یوه مهاله نه حل کېده؛ خو یوه ورځ د انسان زوی د دې معما راز وموند.

په هغې ورځ د تیږو یوې غونډۍ ته ختلی و. کوترې او چینچنې د غونډۍ لاندې راټولې شوې وې. یوه تیږه پرې له

بره ور ولوېده مرغۍ ووېرېدې والوتې خو تيرېې يوه ووژله:
"نو په تيرېه هم مرغۍ ويشتل کېداى شي. په خپله هم پوهېږي څکه خو وېرېږي هم." د انسان زوى په دې کار تجربه وکړه، هر چېرته به چې مرغۍ راټولېدې په تيرېه به يې ويشتې او غوښتل به يې چې ښکار يې کړي خو نورې تيرې به ورسره نه وې. يو مهال يې يوه لويه تيرېه راواخيسته خو پر هغې يې مرغۍ ونه ويشتلاى شوې هغه يې له لاسه ولوېده نو ماته او ټوټې ټوټې شوه نو دا يې هم زده کړل چې لويه تيرېه څنګه ماته کړي. بيا يې هم هماغسې وکړل خو ځير شو چې کله تېږې يو تر بله سره لګېږي نو يوه ځړيکه کوي چې ډېره ښکلې او روښانه وي. دا ورپه ځېروي خو توده نه وي او په دې هم پوهېده چې اور په تياره کې ښکلى وي.

د تيرېې دوه ټوټې يې سمځي ته راوړې په تياره کې يې پرې تجربه وکړه يوه يې پر بله ووهله ځړيکه يې وکړه رڼا يې پيدا کړه خو توده نه شوه. دوه، درې، لس او سل ځله يې د وهلو پر مهال ځړيکه کوله خو توده نه وه نابېره د انسان د زوى محسوس کړه چې د تيرېې يوه څنډه توده شوې ده:

"عجیبه ده، سره تیږه توده شوې ده. نو دا څریکه هماغه اور دی چې د دورموډل یې سپځلی و؛ خو هغه ډېر و او دا لږ دی. اوس چې تیږه توده شوې که ډېرې یې سره وټکوم ډېره توده به شي او کله چې یې تودوخه ډېره شي په اور بدلېږي."

تیږه یې د ځمکې پر مخ کېښوده او په بله تیږه یې ورته په وهلو پیل وکړ. تیږه په خاورو کې ډوبېده نو د یوه لرګي د پاسه یې کېښوده او په ټکولو یې بوخت شو. تیږه ښه سره شوه خو اور نه شوه. هماغه یوه څریکه به یې کوله او بیا به مړه کېده. خو د انسان زوی یې پرېښودونکی نه و. فکر یې کاوه اوس چې په ټکولو سره تودېږي نو کله چې ډېره وټکول شي ډېره تودېږي او په پای کې ترې هغه څه جوړېږي چې زه یې غواړم نو باید ویې ټکوم: "ډمت، ډمت..."

تیږه یې چې په کوم لرګي ایښې وه هغه لرګی وچ کرسک و منځ یې ډډ و تیږه ورننوتې وه، نابېره له لرګي څخه لږ لوګی راوخوت. د انسان زوی پوه شو چې سمه لاره یې نیولې ده. د اور د پیدا کولو له شوق څخه نور نو په ستړیا نه پوهېده. ټکاوه یې ټکاوه یې څریکې یې کولې او په پای کې خپلې موخې ته ورسېد. د لرګي د ډډ وراسته

ځای چې د ډېرو ټکولو له امله تود شوی و، دومره تود شو چې څرېکې په اور بدلې شوې. د لرګي ډډ لوګی پیل کړ او اور یې واخیست.

د انسان زوی له ډېرې خوښۍ څخه په جامو کې نه ځایېده. تیږه یې پرېښوده، پاڅېده څو ځله له خوشالۍ تاو راتاو شو په وا وا ویلو یې پیل وکړ. د هوسۍ، سپي، کوترې او نورو حیواناتو غړونه یې له خولې وویستل او له ډېرې خوشالۍ یې تر سترګو اوښکې وبهېدې. په خپله یې اور تر لاسه کړی و اوس یې نو چې هر مهال غوښتل د لمر بچی یې جوړولای شو.

نور نو پوهېده چې تیږه تودېږي خو نه سوځي، خو د ونې د لرګي منځ سوځي. د اور لرګی یې ځان ته رانژدې کړ د هغه لوګي یې له سترګو اوښکې راوبهولې. خو چې کله یې د خولې هوا پر اور ولګېده نو تازه شو. نو دایې زده کړل چې که اور وپوکل شي تازه کېږي نو هر څومره چې یې ښه پو کړ ښه تازه شو.

بهر څه څوږ تر غوږ وکېده. لرګی په لاس بهر راووت هېڅ خبره نه وه خو باد لګېده. کله چې باد پر اور لګېده نو

هغه به يې تازه کاوه، ناڅاپه اور تازه شو لمبې يې پورته شوې او لوګی يې لړ شو. نو ورته څرګنده شوه چې باد هم د اور له تازه کولو سره مرسته کوي. بل اور يې خپلې سمڅې ته راوړ او سمڅه روښانه شوه. پر ځمکه يې کېښود، وچو وښو هم اور واخيست، خو لوګي يې ورته سترګې سوځولې.

ناڅاپه ورياد شول چې کله يې له غونډۍ څخه تيره وغورځوله نو يوه مرغۍ يې ووژله، منډه يې کړه هغه يې راواخيسته او په اور کې يې ور واچوله. دا تجربه يې هم درلوده چې کله د کباب بوی له غوښې پورته شي نو غوښه پخه وي. او دا تجربه يې هم درلوده چې د سوي نالګېدلي سر هم تود نه وي. په يوه سوي يې نيمه پخه مرغۍ له اوره راليرې کړه. نور نو د انسان زوی خواړه پخول، اور بلول، په تيږه ښکار کول او نور چلونه زده وو.

په دې وخت کې د سمڅې وانبه وسول او سمڅه له لوګي ډکه شوه، هغه تجربه درلوده چې اور نو مري او له ايرو او سکروټو پرته نور څه نه پاتې کېږي نو منډه يې کړه شاوخوا يې ډېر لرګي راټول کړل رايې وړل د سمڅې په يوه ګوښه کې يې له اوره ليرې کېښودل، يو يو او دوه دوه به يې په

اور کېښودل، نو اور يې همداسې ساتلای شو. په خپلې دې لاس ته راوړنې ډېر خوشاله و، چې ناڅاپه يې هپ هپ تر غوږو شو، سپي د کباب د بوی له امله د مرغۍ په لټه کې هلته ورغلی و.

د انسان زوی منډه کړه چې د هوسۍ ښکر راواخلي او سپي ووهي، څه ګوري چې د هوسۍ ښکر هم سوی دی. خو د ونې یو نیم سوی ښاخ هلته پروت دی. چې دهوسۍ ښکر ته بېخي ورته دي. هغه يې راواخیست د سمڅې خولې ته راووت. د ښاخ يوه سر لا تر دغه مهاله هم لوګی کاوه. سپي چې هغه ولید وتښتېده لیرې کېناست او بیا يې وغپل.

د انسان زوی هم د هغه پېښې وکړې: "هپ هپ..." او په سوی يې پرې برید وکړ. سپی به لړ لیرې وت خو نه تښتېده. د انسان زوی ته وریاد شول چې په تیږې ویشتلو هم پوهېږي. په تیږه يې پر سپي ګوزار وکړ، سپی په تیږه ولګېد لږ ډېر وکوږنجېده او وتښتېد.

نو ورته جوته شوه چې که د هوسۍ ښکر نه وي د ونې په ښاخ هم دښمن له منځه وړای شي او په تیږه يې هم. له دې وروسته يې چرت لږ ښه شو.

خو يوه نوې وسوسه:

"که سپی ونه غاپي او د شپې چې زه ويده يم سمڅې ته راننوځي نو بيا؟"

دې وسوسې د انسان زوی لږ انديښمن کړ خو ډېر ژر يې چاره ومونده: فکر يو ښه څيز دی. انسان په فکر کولو سره د هرې ستونزې چاره او هرې هيلې ته د رسېدو لپاره لاره مومي. د انسان زوی فکر وکړ: "سپی هم د سمڅې له تله يا د چت له لارې او يا هم د تيږو د دېوال له لارې نه راځي بلکې زما په خبر د سمڅې د خولې له لارې راځي نو که د سمڅې په خوله کې څو تيږې يوه پر بله کېږدم نو بيا سپی پر هغو نه شي را اوښتی او چې کله تيږې ليرې کوي نو زه پرې راويښېږم او هغه ولم."

بيا يې له ځان سره وخندل او فکر يې وکړ چې "سپی خو بېخي لاس وګوتې نه لري چې تيږې ليرې کړی شي." خپله خندا (قهقه" يې واورېده. خوښه يې شوه. ژر پاڅېده د غونډۍ له لمنې يې څو لويې تيږې راوړې د سمڅې په خوله کې يې يو پر بل د پاسه کېښودې او د سمڅې خوله يې بنده کړه، خو بيا يې فکر شو چې په خپله هم سمڅې ته نه شي

نـنوتلای. یـو ځل بیا یې له ځان سره وخندل. هر مهال چې به یې تېروتـنه کوله نو خندل به یې. بیا یې تیږې ببرته رالیرې کړې او پر ځمکه یې کېښودې، یوه یوه یې د دېوال په ډول د سمڅې په خوله کې کېښودې. دېوال جوړ شو د انسان زوی کور په دغې شي تود او په امن و.

لـه دې کـارونو ښخه وروسته یې فکر آرام و. د اور بلول، د خوړو پخول د وره بـندول هغـه چارې وې چې نوې یې زده کړې وې. خـو لا تـر دې مهالـه نوري ډېرې ستونزې مخې ته پرتې وې.

لـه ځانـه سره یـې فکـر وکـړ: "سـمڅه خـو پـه اور تـودوې د شـپې هـم د وښـو تـر پنډ لاندې ویدېږې. ښه نو په سړو ورځو کې دې په صحرا کې د بدن هم ساړه کېږي."

فکـر یـې وکـړ چـې کـه پـر بـدن یـې د حـیواناتو پـه څېـر وژغـنې او وړې، وای یـا پرې د مـرغانو پـه څېر ښکې وای نو لکـه چـې د شـپې تـر وښـو لانـدې تـود وي همداسـې بـه تـود وای، اوس نـو بـاید څـه وشـي؟ تـر لږ سوچ وروسته یې د دې ستـونزې د لـه مـنځه وړلـو چـاره هـم ومـونـده: "بـاید د یـوه حیوان پوستکی راوباسم او زه یې واغوندم." خو دا چاره هم

ستونزمنه وه يو لوی حیوان ښنګه ونیسي او پوستکی ترې ښنګه وباسي؟ هر څومره سوچ چې يې وکړ عقل يې کار ونه کړ.

څه وخت تېر شو. په تودو ورځو او ښنه اسمان کې يې په تاپو وزمه کې چکر واهه او هره ورځ به يې نوي ښيزونه لاس ته راوړل. يوه ورځ چې د سبزيانو په راغونډولو بوخت و، تېپر يې ومونډل. غوښتل يې چې پاڼې يې وشکوي خو چې زور يې کړ نو تېپر له غوټې سره له ځمکې راووت. چې د تېپر د غوټې خوند يې وڅاکه نو د غوټې خوند تر پاڼو ډېر ښه و نو له ځان سره يې وويل: "عجيبه ښه ښيزونه تر ځمکې لاندې دي!"

له هماغې ورځې وروسته يې هڅه کوله چې هره سبزي له ستې راوباسي. ځينو سبزيانو به ښې خبلې (جرړې) نه درلودې. نرۍ، سختې او بې خونده به وې. ورو ورو يې چغندر، الوګان، ګازرې او کرم هم ومونډل. دا ښيزونه تر تېپرو سخت او کلک وو، خو د انسان زوی هغه په اور پاخه کړل نو ويې ليدل چې پاسته او ښه شول. هغه به هر څه په

اور سره ازمایل چې کله پاخه شي نو څرنګه کېږي. او له هرې تجربې به يې نوي څيزونه زده کول.

هره ورځ به د خوړو ډولونه زياتېده خو د مرغانو غوښې تر ټولو ښې وې. هر چېرته چې به يې مرغۍ ليدې نو په هغو پسې به روان و، په دې ډول مرغانو هغه د غنمو د فصل ځای ته ورساوه. هغه د غنمو شنه وږي وخوړل، ډېر خوندور وو. د غنمو وچې دانې به يې مرغانو ته زېرمه کولې. وچ غنم يې نه شو خوړلای. يوه ورځ يې په زړه کې ورتېره شوه چې دغه وچ غنم هم په اور وازموي. کله چې پاخه شول نو ډېر پاسته او خوندور شول.

د وچو اومو غنمو خوراک چې ورته کومه زړه دردي پيدا کوله هغه يې نور ببخي ورک شو.

هغه د روغتيا لومړنی درس زده کړ: "وچ اومه غنم د زړه دردۍ لامل دی." له مېوه لرونکيو ونو څخه يې انار، کور (انګور)، منې او نورې مېوې ترلاسه کړې. مېوې ډېرې وې خو نرۍ هم پراخه وه. نو فکر يې وکړ چې: "پر هغه څه سربېره چې دی يې پېژني نور څه هم شته."

هره ورځ به یې نوي نوي شیان موندل خو تر ټولو غوره ورته کباب، غوښه او پاخه غنم وو.

په دغه بهیر کې یې یو بل مهم شی وموند چې پر ډېر مهم خیز پوه شو. د پیاز غوټه یې له ځمکې راوویستله، هغه یې په غاښو ماته کړه. ډېر بوی یې درلود. له بویولو سره سم یې له سترګو اوښکې راوبهېدې. له ځانه سره یې فکر وکړ: "په ژړا اخته یم خو ولې ژاړم؟" په هماغو لاسو یې سترګې ومښلې چې پیاز یې پرې نیولی و، نو اوښکې یې لا ډېرې شوې. نو پوه شو چې دا اوښکې د پیاز له امله دي. نو پیاز سترګو ته اوبه ورکوي لکه چې شنه کور په خوله کې اوبه ډېروي، مرچ خو له سوځي، او خرما ژر تنده پیدا کوي. نو هر خوراکي توکی یوه ځانګړنه لري. وریاده شوه چې هغه بله ورځ چې یې وچ اومه غنم خوړلي وو نو زړه دردي ورته پیدا شوې وه او هغه ورځ چې یې ویالې د غاړې خریړي خوړلي وو نو سر او ټول ځان یې درد کاوه؛ خو کله چې ورته زړه بدي پیدا شوه او هغه خریړي یې بېرته وګرځول نو حال یې بېرته ښه شو.

د انسان زوی د خوړو ځانګړنې او د بدن د دردونو او کړاوونو لاملونه يې زده کول. په دې اړه يې ډېر فکر وکړ نو بيا به يې د هر ناپېژندل شوي شيز په خوړلو کې ډېر احتياط کاوه. لومړی به يې لږ خوړ او که څه بد اغېز به يې ونه کړ نو بيا به يې ډېر خوړ. له ازمېښت پرته يې بله چاره نه درلوده ځکه بل څوک نه و، چې دا شيزونه هغه ته وښيي.

د هغه د هستوګنې د سمڅې مخې ته يوه ټوټه ښه ځمکه وه چې چاپېره ترې لويې او کوچنۍ ونې ولاړې وې. ډېرې مرغۍ به پکې کښېناستې. د انسان زوی دغه ځمکه خپل ښکار ځای ګاڼه. هر چېرته چې به يې د شولو، وربشو، ګدنو او ګلونو تخمونه چې پوهېده به چې مرغان يې خوښوي، په سمڅه کې به يې زېرمه کول او بيا به يې د ورځې په هغه ځمکه کې شيندل. کله چې به ورته مرغان راټول شول بيا به يې په تيرو ويشتل او په دې ډول به يې ښکارول، خو دا ښکارونه به ډېر لږ او ځنډني وو؛ خو د کوترو نيول اسان وو.

د انسان زوی وروسته له هغه چې مېوه لرونکې ونې يې وپېژندې ونو ته ختل يې ښه زده کړل. لږه لږه يې د مرغانو

ځالو او هګیو ته هم لاره ومونده. لومړی په دې نه پوهېده چې د مرغانو هګۍ څه شی دي. خو رووسته چې یې څو کوترې وساتلې نو د هغوی پر هګۍ اچولو او بچې ایستلو پوه شو او پوه شو چې د هغوی بچي زېږول د ځمکې د حیواناتو له بچو زېږولو سره توپیر لري.

یو له هغو څیزونو څخه چې د انسان زوی یې خوشاله کړ د پنبې د بوټي پیدا کول وو. په لومړۍ ورځ خو یې هغه د تړوکو یو څیز وګاڼه. نه غوټه لري، نه یې پاڼې خوړل کېږي او نه مېوه؛ خو کله چې یې د پنبې غوزه وسپړله او ویې لیدل چې سپینه او پسته ده نو خوښه یې شوه. پسته او غځېدونکې وه. فکر یې وکړ که چېرته د وچو وښو پر ځای پر ځمکه دا خپره شي نو ډېره به توده وي. نو همدا کار یې وکړ. خو لا تر دغه مهاله په دې نه پوهېده چې پنبې ته یې وروسته د ځان پټولو لپاره څومره اړتیا ده.

یوه بله مهمه بېلبره دا وه چې کله دوه درې میاشتې ووتې او څو اوربښتونه وشول ښکار ځای د کروندې په څېر زرغون شو. د انسان زوی نو نور وابښه نه خوړل او هومره نازو نعمت یې موندلی و چې د وښو خوړل ترې نړدې

هېرېدل. خو تر څه مهال وروسته چې د دغو شينلو تخمونه راشنه شول نوی ځيز يې ومونډ. له دې څخه مخکې دلته واښه کم وو او دومره ښه ځيزونه هم نه وو. خو اوس دا شينلي هغو شيانو ته ورته وو، چې هغه يې دانې مرغانو ته شيندلې وې. په زړه کې ورتېره شوه: "هر چېرته چې دا دانې وشيندم ښايي بيا دا شينلي راشنه شي، لکه څنګه چې اور په وچو لرګو سره ډېرېږي او لکه د مرغانو هګۍ چې بچي راباسي. نو هېڅکله هېڅ شی نه خلاصېږي بلکې هر شی زياتېږي او د هر شي زياتول او سمول آسانه دي."

د انسان زوی له ځان سره فکر وکړ "بايد ازمېښت وکړم. شاړه او بې شينلو ځمکه يې په پام کې ونيوه.په څو برخو يې ووېشله. په هره برخه کې يې يو ډول دانې وشيندلې او تر څه مهال وروسته د ازمېښت پايله راووته. د غنمو، ګدنو او ګلانو تخمونو هر يوه خپل جنس را زرغون کړ. د انسان زوی کرکيله زده کړې وه، خو کار يې ډېر نيمګړی و. په هر څه نه پوهېده خو هر ځل چې به يې ازمېښت کاوه پر نويو ځيزونو به پوهېده: تخم په وچه ځمکه کې نه زرغونېږي،

اوبو ته اړتیا لري. پخې دانې یا تخمونه نه زرغونېږي نو د کر لپاره باید تخمونه اومه وي او داسې نور ځیزونه.

پر همدې مهال چې د بزګرۍ ازمېښتونه یې کول ځنګل ته به هم ته او له ځنګلي مېوو څخه به یې ګټه اخیسته. د ځان ساتنې لپاره به د ونې څو ښاخونه ورسره وو. او پوهېده چې حیوانات له ځان تمبولای شي. په ځنګله کې ونو ته خوت او پوهېده چې کله ونې ته وخېژي نو نور حیوانات ورپسې نه شي ختلی. یوازې پیشو ونې ته ختلای شو؛ خو هغه هم د سپي له هپ هپ څخه وېرېده او تښتېده به. د انسان زوی به په ساعتونو ساعتونو په ونو کې کېناسته چې د حیواناتو د تګ راتګ ننداره وکړي او د هغوی پر خوی او کړو وړو پوه شي. ډېر مهال وروسته یې بیزو وپېژنده. چېرته یې د غوزونه نوې موندلې وه، څو ځله تللی و او له هغه غوزه یې دانې راشکولې وې. د غوزانو دوه درې ونې یو بل ته څېرمه ولاړې وې. کله چې یو ځل هلته ورسېد ویې لیدل چې یو بیزو په ونه کې ناست دی. لکې یې راځوړنده ده او غوز خوري. دواړه یو د بل له لیدو څخه ووېرېدل. بیزو هم هېڅکله انسان نه و لیدلی. د انسان

زوی ته یې څو دانې غوزان ور ورژول. د هینبتیا ځای و، تر دغه مهاله هېڅ حیوان داسې کار نه و کړی، د انسان زوی فکر وکړ چې که په خپله هم ونې ته ور وخېژي ښه به وي او که دغه حیوان برید وکړي نو په ښاخ یې وهلی شم.

ونې ته ور وخوت، هلته یې چرت ښه و، دواړو یو تر بله سره وکتل. د انسان زوی ولیدل چې دغه حیوان هم د ده په څېر اوږدې ګوتې او څپړې لري او ده ته ډېر ورته دی. خو بیزو ډېر وېرېدلی و، نو له ونې یې ټوپ کړ او وتښتېد. "نو دا هم ډېر خطرناک دی."

بله ورځ د انسان زوی هلته د مخه ورسېد. دی ونې ته ختلی و، چې بیزو هم راورسېده. د انسان زوی ورته څو غوزان راورژول. بیزو یې په خوړلو پیل وکړ. څرګنده وه چې ډېر خوشاله شو. وېره یې ورکه شوې وه نو وروسته په خپله هم بلې ونې ته وخوت، پر ښاخ یې ځان راځوړند کړ او څو کریواري یې وکړل. د انسان زوی لیدل چې ټول کارونه یې ده ته ورته دي؛ خو لکۍ لري، پر بدن یې وژغني ولاړې دي او څېره یې د حیوان په څېر ده. ډېر انتظار یې ورته وکیښ خو بیزو راکښته نه شو. د ماښام خړه لګېدونکې وه، نو په

خپله په احتیاط راکوز شو. د ځان ساتنې لپاره ورسره ښاخ په لاس کې و؛ خو بیزو داسې کار نه کاوه چې د ډار وړ وي.

څو ځله یې یو تر بله سره لیدلي وو، نږدې وه چې سره انډیوالان شي خو یوه ورځ یوه بده پېښه رامنځ ته شوه: کله چې د انسان زوی په ونه کې و، بیزو هم راغی خو نابېره یو ځیروونکی حیوان راورسېد، په بیزو یې برید وکړ او هغه یې ټپي کړ. د جنګ ډګر د ونې بېخ و. د انسان زوی څو غوزان په حیوان پسې راګوزار کړل او بیا یې پسې څو ښاخونه راوغورځول، حیوان وتښتېد، خو بیزو همالته ځنکدن تېر کړ. کله چې د انسان زوی له ونې څخه راکوز شو نو د بیزو بدن لا تر دغه مهاله نه و سوړ شوی.

د انسان زوی د بیزو جسد په راکښلو راکښلو سمڅې ته راوړ. د لارې په اوږدو کې یې د یوې مېږې جسد هم وموند چې نیم لېوه خوړلی و. هغه یې هم سمڅې ته رالنډ کړ وابنه او لرګي یې پرې واچول او پټه یې کړه.

سبا ته یې اور بل کړ لومړی یې د مېږې لږه غوښه وریته کړه او ویې خوړه. بیا یې وغوښتل چې د بیزو غوښه هم وازمايي. غوښه ترخه او بې خونده وه. ناڅاپه وریاد شول

چې ددې پوستکی د اغوستو لپاره ښه دی؛ خو ویستل یې ډېر ستونزمن وو.

دوه درې ورځې یې په تېرو لرګیو او تیږو له مېږې او بیزو څخه په پوستکي ویستو تېرې کړې. بیا یې د بیزو جسد سیند ته وغورځاوه. کله چې یې پوستکی اغوسته نو سوړ او سرېښناکه و، هغه یې سمخې ته یوړ له وچو وښو یې ډک کړ او هماغسې یې پرېښود، چې وچ شي. له مېږې چې یې پوستکی ویستـه نو په ډډکې یې کولمې ومونډې. ښه څیز و، هېڅکله یې دومره اوږد شی نه و لیدلی. هغه یې له ځان سره وساته. کله چې یې هغه غونډولې نو د دورمې په یوه سر پورې یې تاو کړې، چې غوټه شوې بیا یې چې هر څومره هڅه وکړه غوټه ایله نه شوه. بیا یې په ډېره هڅه سره په لاس ایله کړه. دا هم یوه نوې لاس ته راوړنه وه نو فکر یې وکړ، چې د مېږې په کولمو سره هر شی یو له بل سره تړلی شي لکه یو ژوندی مرغه په ونه پورې تړلی شي، چې ونه تښتي. او که کولمې د ونې په ښاخ پورې وتړل شي ښایي انسان پرې ځان هم راځوړند

کړي. راځوړندېدل او زانګل ډېره ښه ساعت تېري ده لکه چې بيزو په خپله لکۍ راځوړند شوی و.

دوه درې ورځې وروسته د مېږې پاتې غوښې بوی وکړ. هغه يې سمندر ته وغورځوله. کله چې کبانو د سمندر په څنډه کې خواړه وليدل نو پرې راټول شول د سمندر څپو څو کبان څنډې ته راوغورځول، د کبانو غوښه هم ډېره خوندوره وه.

د انسان زوی د مېږې له پوستکي يو فرش جوړ کړ او د بيزو له پوستکي څخه يې يو پرتوګ. اوس يې نو جامې او فرش تر لاسه کړي وو. بله ورځ نو په سمه توګه په مېږې، بيزو، وزې او هوسۍ پسې ګرځېده. د هغوی د رام او اهلي کولو په چل پوهېده: کوترې په دانو، مېږه په وښو او سپی په غوښه رامېږي. هغه به يې په ونه پورې تړل او اوبه او واښه يې ورکول. د سپي رام کول د اټکل پر عکس ډېر اسان وو. سپی چې د کولمو ټوټې وخوړې نو څنګه چې يې له انسانه ښېګڼه وليده نور نو ولاړ نه. هغه اوس با وفا ملګری موندلی و.

۸

د انسان زوی آبادي کوي

دانسان زوی اوس اته کلن و او د ډېرو حیواناتو ورسره ګډ ژوند درلود، خو چې هر څومره فکر یې کاوه چې ولې زما په خبر څوک په نړۍ کې نه شته، هېڅ نه پوهېده. تاپو وزمه د هغه نړۍ وه او په نړۍ کې هېڅا د هغه غوندې پوهه او فکر نه درلود.

تل به جوړه کارغانو خپله ځاله جوړوله. سپي به تل جوړه ګرځېدل او اوسېدل. کوترۍ به تل جوړه الوتې رالوتې. مېږې به هېڅکله ځانته د وښو زېرمه کولو فکر نه کاوه. کله چې به پرانیستې وه صحرا ته به تله او وابنه به یې خوړل او بېرته به راتله او که به پرانیستې نه وه او وږې به شوه د (با، با) رمباړې به یې وهلې. (با، با) یانې زه وابنه غوارم. کوترۍ به هم څه کار نه کاوه او هېڅ مهال یې خپل

ژوند نه بدلاوه او هېڅکله يې نوی شی نه یاداوه. هېڅ یوه له بله ګټه نه شوه اخیستی او نه يې يو د بل غږونه یادولای شول یوازې همدی و، چې له هغو ټولو څخه يې په ځیرکۍ سره ګټه اخیسته نو له همدې امله د انسان زوی خوشاله و.

هغه د ټولو حیواناتو غږونه زده کړي وو او د هغوی پام يې ځانته را اړولای شو. خو د هغوی د غږونو پر مانا نه پوهېده. سپی چې به کله ځوک وېراوه نو غپل به يې خو، چې کله به وېرېده نو کوړنجل به يې. مېږه چې به کله وږې وه نو با، با به يې کاوه. له ځانه سره يې فکر وکړ: ښه نو د شپې دا د بانګې بانګ څه مانا؟ هېښنده ده که نیمه شپه ګیدړ هغه خوري نو هېڅ بانګونه نه کوي. خو چې کله هېڅ خبره نه وي نو نا خبره فریادونه کوي. تر ټولو سپی ډېر با وفا و، چې ملګری او دښمن يې پېژانده، پر جنګ هم پوهېده او د انسان د زوی لپاره يې ځان هم له ګوابښ سره مخامخاوه؛ خو هغه چېرته او د انسان زوی چېرته.

یوه ورځ يې له ځان سره فکر وکړ: "چې ټول بوټي او وابښه له خپلو تخمونو څخه رازرغونېږي اوسپی له سپی څخه او وری له مېږې څخه زېږي او د هر الوتونکي بچي له

هگکی څخه راوځي نو زه له کومه ځایه راغلی یم. له هوسۍ څخه خو نه یم پیدا. که چېرې له هوسۍ زېږېدلی وای نو د هغې په څېر به وای او نور هم زما په څېر څوک نه شته."

هر څومره چې یې سوچ وکړ، پوهې هېڅ کار ونه کړ. له ځانه سره یې وویل: اوس لا د وخته دی اخر پوهېږم چې څه خبره ده.

د تاپو وزمې له شاوخوا سره بلد و تر یوه ځایه ځمکه او بیا اوبه وې او نور هېڅ نه وو. "یانې دا اوبه تر کومه ځایه دي او پاتې یې چېرته دي؟ آیا د دې په څېر ځمکه بل ځای نه شته که شته؟" د لمر، سپوږمۍ او ستوریو په اړه یې فکر وکړ، چې دا څه دي او څه کار کوي له کومه ځایه راځي او چېرته ځي؟ څوک نه و چې پر دغو شیانو یې پوه کړي، ځان یې ډېر بدمرغه گاڼه چې پر دغو څیزونو نه پوهېږي. خو ډېر کارونه لا وو، چې دی یې باید د ځان لپاره ترسره کړي.

د هغه سمڅه له مېوه لرونکیو ونو، گنیو او د خوږو اوبو له سیند څخه لیرې وه. د سمندر د اوبو خوند هم ښه نه و. هېڅ

حیوان هغه نه ښني څه به ښه وای که چېرې د هغه هستوګنځی په یوه ښه ځای کې وای.

یوه ورځ د ځنګل پر څنډه تېرېده. ډېرې ونې چې نږدې سره ولاړې وې او کم واټن یې درلود د یوه دېوال په څېر ورته ښکاره شوې نو فکر یې وکړ: "د سمڅې دېوال له تیږو او خاورو جوړ دی خو دا دېوال له لرګیو څخه جوړ دی. اوس نو که چاپېره د لرګیو دېوال وي او له پاسه پرې هم د لرګیو چت وي نو زما خپله سمڅه به وي او که د تیږو دوره پر ځای د لرګیو ور وي نو دا به اسان او ډېر ښه وي."

همالته کېناست، فکر یې وکړ او پر ځان یې ډاډ وموند چې په ښه ځای کې ځان ته هستوګنځی جوړولای شي.

تر یوه مهاله یې کار دا و، چې ونې پرې کړې او لرګي یې پر ځمکه وغورځوي. د کار وسایل یې تېرې تیږې وې.

د انسان زوی یوه لرګینه خونه جوړه کړه چې نه څلور ګوټې وه او نه ګرده بلکې هماغسې سمڅې ته ورته وه. د خونې د دېوال له چاودونو څخه باد خونې ته ننوت نو چاودونه یې له وښو څخه ډک کړل. کله چې یې ورته چت جوړاوه نو لرګي ورخېژول ورته ستونزمن و. یوې خوا ته یې

د دېوال شاته خاورې واچولې، پر هغو ودرېد او چت يې جوړ کړ. هر چېرته چې به لرګي نه پيدا کېدل نو د مېږې پر کولمو به يې تړل. بيا خونې ته ورننوت، څه ګوري چې د دېوال هغه اړخ تر نورو ډېر کلک دی او هېڅ چاود پکې هم نه شته، چې خاورې يې ورته اچولې وې. له خاورو څخه يې ختې جوړه کړه او پر نورو دېوالونو يې هم وتپله. ټول چاودونه بند شول خو کله چې اوربښت پيل شو نو چت راوڅڅېده. ډېر وابښه يې پر بلې واچول خو بيا يې د څڅېدا مخنيوی ونه کړ بيا يې چې پرې لږې خاورې او خته واچوله او مخ يې ورته اوار کړ نو څڅېدا يې بنده شوه. ور يې له نريو لرګيو څخه جوړ کړی و، چې د مېږې په کولمو يې سره تړلي وو. د شپې به يې پر خپل ځای دراوه او د ورځې به يې ترې ليرې کاوه. په دې ډول يې ورځ تر ورځې کارونه بشپړېده او ښه کېده.

د انسان زوی تر کانې زده کړې وه.هر فکر، فکر زېږوي. او هره تېروتنه نوې تجربه رامنځ ته کوي. اوس نو، چې هر چېرته يې زړه وغواړي خونه جوړلای شي.

کله چې یې نوې خونې ته خپل سامان وړ، څه ګوري چې د فرش پنبه یې سره منبتې او د مېږې د کولمو په څېر کلکه شوې ده. پنبه هېښنده ځیز و هغه هم منبتی او هم پلنه او اوږده کېدای شوه. کله چې د پنبې په راز پوه شو نو نور کارونه اسان شول. پنبه به یې د ونو جاولو او شیرې لمدوله او مزې به یې ترې جوړول. یا به یې اواروله او فرش به یې ترې جوړاوه. پنبه به یې سره منښلوله او رخت به یې ترې جوړاوه.

یوه ورځ څه ګوري چې د یوې وزې پر شا یوموټی وژغنې پاغونده شوې او د غورځېدو په حال کې دي. دغه او ځینې نورې وژغنې یې راټولې کړې. ډېرې تودې وې. نو هماغه د پنبې تجربه یې پر وژغنو هم پلې کړه: د وزې وژغنې د وزې په شیدو یا د ونو په جاولو خیشتول، سولول، اوارول او بیا یې وچول او په دې توګه یې یو ټغرګی جوړ کړ. له دغه ازمایښت وروسته به یې وزې پیدا کولې او له وژغنو څخه به یې ورنه ګټه اخیسته. وریو او مېږو وژغنې نه درلودې؛ خو د هغوی وړی یې په تېرو تیږو پرې کړې او هماغسې یې

وازمـايلي وړی هـم ډېـرې ښــې وې. ورو ورو ــې د وړيــو وريښل او تاوول او بيا يې د هغو اوبدل ياد کړل.

د انسـان زوی له ځانه سره سوچ کـاوه: "ډېره ښه ده چې انسـان هر کـار وغـواړي کولای يې شي يوازې لږ فکر او څه ازمايښت تـه اړتيا لـري. زغـم ښـه شـی دی او خېرنـه تيوله کارونـه سـموي." د انسـان د زوی سـليقه ورځ پـه ورځ ښـه کېده او هوښيارېده کله چې به يې وښتان لوی شول او د ونو له څانګو سره به نښتل نـو هغـه بـه يې پـه تېرو تيرو غوڅـول او وړول. بيا بـه يې وړی وژغني د ونو په جالو سره ونښلولې او خولی به يې ترې جوړه کړه نو سږ به يې هم د ونو څانګو نه تېي کاوه او خوړاوه.

يـو بل نـوی کـار يې هم زده کړی و: د مېږې کولمې يې تـاو کړې وې کله چې بـه يې هغه پـه هـوا کـې لـه خـپله سره څرخولې نـو د هغو د غژ غژ غږ بـه يې پـه غوږ ښـه لګېده يـوه ورځ يـې د هغـو کولمـو پـه منځ کـې تيـره ابښې وه او له سره يې تاووله چې ناڅاپـه ترې هماغـه تيـره ووتـه او ډېره لـيرې والوتـه او همالـتـه وغورځېـده. د انسـان زوی له ډېـرې خوشـالی (وا وا) وويـل له خوشـالی نـه پـه جـامو کـې نـه

ځایږده ځکه همدا کار یې ترسره کول غوښتل خو پر چل نه پوهېده. بیا یې د کولمو د سرونو په منځ کې نخي تړته کلکه کړه او لیرې ځایونو ته به یې پرې تیره ویشتلای شوه.

د انسان زوی نو مچوغونده (مچنغوزه) جوړه کړې وه اوس یې لیرې ځایونو او د ونو سرونو ته تیره ور ویشتلای شوه. په دې ډول یې لینده او غشی جوړول هم یاد کړل: داسې چې یوه ورځ یې یوه تانده راکږه کړې وه دواړه سرونه یې ورته په کولمو تړلې وو او ټوکې یې پرې کولې. کله چې یې کولمې راوښکولې بېرته یې له لاسه خلاصې شوې او د هغه په لاس کې لرګی یې لیرې ځای ته وتوغاوه. په ډېره چټکۍ سره لیرې ځای ته د لرګي توغېدو هغه حیران کړ. له ځانه سره یې د هغه د توغېدو غږ تکرار کړ (بژژژ...) یو ځل بیا یې لینده ګۍ هماغسې وازمایله. غشي ویشته یې زده کړه او کولای یې شول چې په تېرو سویو د هر حیوان ډډ سوری کړي. نور نو د انسان زوی له هېڅ الوتونکي، ځیږېدونکي او ځیروونکي څخه نه وېرېده.

یو مهال چې هوا ډېره سړه وه په خپله خونه کې یې اور بل کړی و. بې پامي یې وکړه، خونې یې اور واخیست

دېوالونه بلې او پکې پراته سامانونه وسول. څه بده پېښه رامنځ ته شوه د استوګنې بله خونه نه شته نو د شپې تېرولو لپاره يې خپل پخوانۍ سمڅې ته سر ورښکاره کړ. ډېر خواشينی و ژړا ته يې زړه ډک کېده؛ خو له ځان سره يې سوچ وکړ: "په ژړا خونه نه رغېږي. په دې لاسونو جوړېږي او لاسونه لا شته." له ځان سره يې په لوړ غږ وخندل او ويې ويل: "بيا خونه جوړوم او لا ښه يې جوړوم او که بيا هم وسوځېده بيا يې جوړوم." ډاډه شو: "څه شی چې بدل لري، خواشيني نه مني."

ګهيځ چې د خونې شارنې ته ورغی، ګوري چې ټول لرګي سوځېدلي او ايرې يې تر سترګو کېږي خو د دېوال هغه اړخ چې هلته يې خاورې او ختې اچولې وې، ختې او خاورې يې ځای پر ځای دي او د اور له امله پخې شوې، سرې ښکارې او کلکې شوې.

له دې اور لګېدنې نه يې نوی کار ياد کړ: دا ځل يې د خونې دېوالونه له ختو څخه جوړ کړل. چاپېره يې ترې اور بل کړ چې ژر وچ شي او ختې د ښښتو په څېر کلکې شوې. تلې او بلې يې ورته هم جوړ او په ختو اخېر کړل. کله چې

به وچ وانښه او بوس له ختهو سره یو ځای شول نو ختهې به پر دېوال ښې نښتې. اخېر یې هم کشف کړی و او د انسان زړی د ختهو کور جوړول او د خښتو پخول هم زده کړي وو. له ځان سره یې سوچ وکړ چې اور ختهې دومره کلکوي نو ښايي چې د کدو پر ځای هم ختهین لوښي جوړ شي. ختهین لوښی یې جوړ کړ په اور کې یې کېښود، پوخ شو، چې ویې کوت نو سم دم و. بیا یې نور ډېر ختهین لوښي جوړ کړل. تیږه یې هم په اور کې پخه کړه او ګچ او چونه یې وپېژاندل. په دې ډول یې د هر ډول تیږې او خاورې ځانګړنې وپېژندې. د انسان زوی نو نور صناعتګر شوی و.

د ازمایښتونو د ترسره کولو په ترڅ کې یې د مالګې تیږه هم وپېژانده. نو بیا یې د تروو او د سمندر د اوبو پر ځای له هغې څخه ګټه اخیسته. خو یوه ورځ پر نوي څیز پوه شو: ځینې تیږې په اور کې ویلېږي او نور څیزونه ترې جوړېږي لکه اوسپنه، ښیښه، سپین زر، سرپ او نور. کله چې یې د لومړي ځل لپاره ښیښه وپېژانده ډېر خوشاله شو. هنداري (ښیښې) اُو صیقلُ او پاکې شوې اوسپنې دهغه

انځور ښوده، نو نور دې ته اړ نه و چې د اوبو خوا ته لاړشي او خپله څېره وويني.

هر څه چې به يې کشفول له هغو به يې ډېر خوند اخيست خو له ځان سره يې فکر کاوه: "دا ټول د اور ځانګړنې دي. اور د دې ټولو زېږوونکی دی خو لمر نو څه شی دی؟ هغه چې تر ټولو روښانه او تر ټولو غوره دی. اور چې دومره ښېګڼې لري څوک يې بلوي؟ لکه څنګه چې زه نوي شيزونه او نوې ډالۍ جوړوم او حيوانات يې نه پېژني او پرې نه پوهېږي داسې يو څوک هم شته چې تر ما ډېر پوهېږي او هماغه لمر روښانوي، اې کاشکې چې هغه مې پېژندای شوای."

د انسان زوی خبرې نه کولې، پر ژبه نه پوهېده، زورل شوی نه و، يوازې د حيواناتو غږونه يې اورېدلي وو؛ خو د انسان زوی و پوهه يې درلوده او فکر يې کاوه: "يو بل څوک هم شته چې زه يې نه پېژنم چې څوک دی او داسې کارونه کوي چې زه پرې نه پوهېږم څه دی؟"

د انسان زوی الله پېژندلی و

یوه ورځ د انسان زوی د هېڅ کار زغم نه درلود. د خونې مخې ته لټ ناست و د سر له پاسه یې پر ښاخونو کوترې ناستې وې. لمر د کوترو سیوری پر ځمکه کړی و. کوترې تللې راتللې هغه د هغوی د سیوریو له مخې پوهېده چې څو دي، کومې خوا ته او څنګه الوځي او کښېني. د هغو څېرې یې خوښې شوې. د هغه لرګي په وسیله چې په لاس کې یې و. د دوو کوترو تر سیورو چاپېره یې کرښې وکښلې. کوترې والوتلې خو د هغوی انځور په ځمکه پاتې شو. دا کار یې خوښ شو. بیا یې د وزې، ونې او پر خپل سیوري همدا کانه وکړه. د شپې په زړه کې ورتېره شوه چې د ونې انځور پر دېوال هم وکاږي. خو هلته د ونې سیوری نه و. ښه فکر یې وکړ نو وریاد شول چې د ونې او کوترې

انځور څرنګه و. په دېوال باندې يې پر لرګي کرښې ووهلې خو کرښې ښې څرګندې نه وې. پر دې سربېره دا انځور هسې نه و لکه د خونې د مخې ونه بلکې د ځنګل ونې ته ورته و. نو له ځان سره يې فکر وکړ چې د هر څيز انځور کښلای شي. کله چې يې په سوي ازمېښت وکړ نو ازمېښت يې بريالی وخوت او رنګ يې هم ښه و ځکه يې بيا د انځورونو د کښلو لپاره ښکاره غوره کړل.

ورو ورو په دې پوه شو چې په کار نه ده چې د هر څيز انځور دې هرو مرو د هغه په کچه وي ځکه تر هغه کوچنی هم وي خو پېژندل کېدای شي. د انسان زوی انځور ګري هم ياده کړه نور نو له وزګارتيا هم نه بې زغمه کېده. نو کله چې به په کور کې و او بل کار به يې نه درلود نو په پاکو تيږو به يې انځور ګري کوله.

بيا په دې لټه کې شو چې د الوتولکيو پڼې (مجسمې) له خټو جوړې او په اور کې يې پخې کړي. په دې توګه يې خټينې پڼې جوړول هم زده کړل. او د انسان زوی هنرمند شو؛ خو لا تر دغه مهاله پر ژبه نه پوهېده. هغه په ترتيب انځورګري کوله: "دا وزه ده، دا کارغه دی، دا د غوز ونه

ده. دا کور (انګور) دی." له خپله کاره يې خوند اخيست، خوشالېده او د خوشالۍ چيغې به يې وهلې. غوښتل يې چې ووايي: "راشئ ووينئ، دا زه يم چې ونه د ونې او وزه د وزې غوندې انځوروم." خو هېڅوک له هغه سره په خوشالۍ کې ګډ نه و او هېچا هغه نه هڅاوه. د وزې انځور به يې وويست، د وزې مخې ته به يې کېښود؛ خو وزه به نه خوشالېده. "راشه، دا هم يو بل، دا هم لمر، دا هم سپوږمۍ." خو حيوانات په هېڅ سر بر نه پوهېدل. کوترو هم هېڅ داسې کار نه کاوه چې ترې څرګنده شي چې خوښ شوي. د انسان زوی هڅونې ته اړتيا نه درلوده. ملګري او همفکر يې غوښت خو دا څيزونه په تاپو وزمه کې نه پيدا کېدل او هغه هېچا نه پېژانده. يوه ورځ يې لويه سپينه تيږه راوړه پر سکرو يې په هغې باندې د خپل سپي انځور وکښه. کټ مټ د سپي په څېر و. کله چې يې هغه انځور سپي ته ورښکاره کړ سپی ورته لږه شېبه ور وکتل بيا يې زړه راتنګ شو: (هپ هپ...) ويې غپل.

د انسان زوی له ځان سره فکر وکړ چې: "اوس يو څه وشول، اوس يو پيدا شو چې پوه شي زه څه وايم."

د انسان زوی له انسانانو سره

اوس نـو د انسـان زوی څوارلـس کلـن و. دیـارلس کالـه کېـده چـې د یـوه وحشـي انسـان پـه خبـر یـوازې پـه دې تـاپـو وزمـه کـې اوسـېده او نـه پوهـېـده چـې تـر تـاپـو وزمـې بهر څه حـال دی. تـر هغـه د مخـه هېـڅ انسـان هلتـه پل نـه و ایښی. دا لـیرې پـرته تـاپـو وزمـه له لارې څخـه پـر څنډه پـرته وه. نـو هېڅکلـه د مسـافـرو بېړۍ هلـتـه نـه ورتلې؛ خـو کېـدای شي هـره ورځ نوې پېښـه رامنځ ته شي.

د اخـک تـر بېړۍ لویه بار لرونکې بېړۍ له اوو سپرو سره له سـمندره پورېوتله. بیا هم سمندر توپاني شوی و. د بېړۍ بادبـان بـاد وړی و نـو، د سـمندر څپـو یـې بېړۍ همـاغـې تونـدې بهېـدونکـې بېلـۍ تـه ورتېـلـه کـړې وه، هغـه بېلـه چـې دیـارلس کـالـه پخـوا د بېړۍ مـانـو چـې هر څومره هڅه وکړه، بېړۍ یـې لـه هغـې بېلـې څخـه بـچ نـه کـړای شـوه. کلـه چـې د

بېړۍ پر کنټرول برلاسی شو نو یوې نا اشنا ځنډې ته رسېدلی و.

ملګرو یې وویل: "اوس چې دلته راورسېدو، نو راځئ چې ورکوز شو او ووینو چې دا کوم ځای دی. ښایي نوي څه په لاس راشي او د الله له نړۍ څخه یو نوی احوال ترلاسه کړو."

هغوی اووه کسه وو، زمری او بریالی د بېړۍ څښتنان وو، د یوه نوم هم سنک و، چې د زمري اوښې و، چې د چکر لپاره راوتی و. درې کسه نور د بېړۍ مزدوران وو او یوه هم پخوونکې او خدمتګاره زړه ښځه وه.

ټولو غوښتل چې نا آشنا ټاپووزمه ووینې. بېړۍ یې ځنډې ته کړه او په احتیاط سره پلې شول. هر ډول ګواښ سره د مخامخېدو په وړاندې یې ځانونه چمتو کړل او په وچه کې پلې شول.

کله چې د غنمو کروندې ته ورسېدل نو پوه شول چې دلته هم انسان شته؛ خو څه ډول انسان؟ ملګرو وویل باید احتیاط وکړو. ښایي په دې ټاپو وزمه کې سړي خواره هم وي نو کېدای شي چې موږه بې پامه ورسره مخامخ شو او کار خطرناک شي.

د انسان زوی بې وزله

انسانان ټاپو وزمې ته ښه ورننوتل د ټاپو وزمې ښېرازې يې ډېره خوښه شوه او ويې ليدل چې ونې، ګلان، وحشي او اهلي حيوانات او هر څه هلته شته؛ خو د انسان څه پته نه لګي. په داسې حال کې چې د غنمو کرونده د انسان د شتون نښه ده ځکه بل هېڅ حيوان پر کرنه نه پوهېږي. ځړېدونکي حيوانات که خواړه ومومي خوري يې او که ونه مومي له لوږې مري؛ خو د خوړو پر زياتولو يې عقل کار نه کوي.

هغوی په بله لاره تللي وو، نو د انسان زوی خونې ته ژر نه شو وررسېدای. لږه ننداره يې وکړه، د شپې بېرته بېړۍ ته لاړل او ويې ويل: "سمه ده چې دلته کار نه لرو خو ښه به دا وي چې څو ورځې دلته پاتې شو او د ټاپو وزمې په اړه

معلومات ترلاسه کړو." د سمندر نقشه یې وکتله د هغې ټاپو وزمې نوم نښان پکې نه و. خوشاله شول چې له یوې نوې لاس ته راوړنې سره به خپل هېواد ته ستنېږي.

په دویمه ورځ په بله لاره ټاپو وزمې ته لاړل، چې د انسان زوی خونې ته تللې وه. کله چې یې له لیرې څخه خونه ولیدله نو څرګنده شوه چې په ټاپو وزمه کې انسان شته؛ خو که د ټاپو وزمې وحشي اوسېدونکی وي نو ستونزمن کار دی. وحشي انسانان د انسانانو غوښې خوري او زهرجن غشي ورسره وي په سمو خبرو نه پوهېږي خو په جنګ پوهېږي.

یوه وویل: "راځئ چې بېرته ستانه شو. وېرېږم چې یا به په خپله مور له منځه لاړشو او یا به د څو وحشي انسانانو خون راپه غاړه شي." بل ځواب ورکړ: "تر اوسه لا په څه نه پوهېږو، که څه ګواښ سره مخامخ شوو نو بیا به ستانه شو بېړۍ خو نږدې ده. مور غواړو چې پر څه پوه شو د ژوندانه خوند په پوهېدو کې دی.

په احتیاط غونډۍ ته وروختل شاوخوا یې وڅارله. نور یې خونې نه برېښېدې خو ورته څرګنده شوه چې که وحشي

انسانان هم شته، خو لږ دي. په ليرليد (دوربين) کې يې د انسان د زوی د خونې ښه ننداره وکړه. هلته يې مېږې او کورني مرغان وليدل. يو ډول نظم او ترتيب او د تمدن نښې يې وليدې؛ خو چې هر څومره وځنډېدل د انسان په هېڅ احوال پوه نه شول.

لمر په غړ غړو و، چې د انسان زوی له خپل سپي سره له ځنګل څخه راستون شو. مساپرو د ليرليد په وسيله هغوی وليدل. د بيزو په څېر يو څيز چې نيغ را روان و، ډېر ليرې له خپل سپي سره ښکارېده. دوی همالته وځنډېدل. د انسان زوی له ټولو ځايونو بې خبره خپلې خونې ته راستون شو. بېرته راووت. د حيواناتو د اوبو لوښی يې وکوت بېرته خپلې خونې ته ننوت او ور يې راپورې کړ. تياره په خپرېدو وه چې مساپر خپلې بېړۍ ته راستانه شول چې شپه په بېړۍ کې تېره کړي.

هر مساپر خپله رايه څرګندوله او اټکلونه يې کول. يوه وويل فکر کوم دلته ډېر انسانان شته چې په ځنګل کې اوسېږي او دا يو يې دلته پرېښی دی. بل ځواب ورکړ: "يو يې دلته پرېښی چې څه وکړي؟ داسې ځای چې هېڅکله

ورته ببرۍ نه راځي، يانې له غلو څخه وبربري ځکه يې ساتندوی پرېښی دی؟" ټولو وخندل. بل يوه وويل: "زما پر اند دا ټاپو وزمه څښتن لري چې په خپله په بل ځای کې دی دا ځناور يې استازي دي او هرو مرو وسله وال هم دي."

بل يې وويل: زما پر اند ښايي دا ځوان چې ډېر کم عمره دی، له کومې ببرۍ دلته پاتې شوی وي او يا هم له ډوبې شوې ببرۍ څخه ژغورل شوی وي او په خپله يې ځانته د ژوند يوه چاره جوړه کړې وي." خو هېڅوک پر حقيقت نه پوهېده. سبا ګهيځ بيا هم غونډۍ ته ور وختل په لرليد کې يې د خونې د شاوخوا ښه ننداره وکړه. د انسان زوی اور بل کړی و او څه پوخ کړی څيز يې خوړ، هر څه چې وو، خو براس ترې پورته کېده. بيا يې مېږې ته اوبه راوړې. نور نو دا شک له منځه ولاړ چې دا رښتينی انسان نه دی. هغه يوازې او ساده ژوند کوي. هېښنده جامې يې اغوستې وې، نه کانو د سر وېښتانو او څرګندې څېرې يې دا په ګوته کوله چې دا يو بدمرغه انسان دی.

سره ويې ويل: ورنږدې کېږو او که چېرته همدا يو وی نو که وحشي هم وي ورسره جنګېږو. چې ورنږدې شول سپې نا

اشنا موجودات ولیدل په غبلو یې پیل وکړ. د انسان زوی هم چې هغه ولیدل نو ووېرېده او له خپل سپي سره ځنکل ته وتښتېده. هېڅکله یې دا فکر نه کاوه چې څوک دې راشي او سامانونه یې له خونې یوسي او یا یې ګډوډ کړي.
هغه داسې انګېرله چې ښایي انسان ته ګواښ وي خو چې زور یې پرې نه رسېږي، باید ترې وتښتي. په ټاپو وزمه کې بل هېڅ خنډ نه و. تر دغه مهاله په ټاپو وزمه کې هېڅ کله غلا نه وه شوې. کله چې د انسان زوی وتښتېد او ښه لیرې وت نو انسانان ښه ورننوتل، ساتل یې او غږ یې کړ: "دلته څوک شته؟"

چا ځواب ورنه کړ. د بل هېڅ انسان پته نه وه. هغوی وویل: باید ټوله خونه وپلټو. دا کار یې هم وکړ. یوه کړه اوږده خونه وه چې د سمڅې په څېر جوړه شوې وه. مېوې، سبزیانې، ختین لوښي د خونې تلې تش ځای نه درلود. د پښې ایښودلو ځای پکې نه و یوازې د انسان د زوی د خوب ځای یې درلود. ټول سامانونه لومړني او ساده وو لکه د زر کاله پخوا ژوندانه چې وي. ټولو څیزونو د یوه هوښیار، پوه او تجربه کار؛ خو د نا روزلي انسان کیسه

کوله او دا یې جوتوله چې دلته له یو کس څخه پرته بل څوک نه شته.

په سمځه کې یوه غږ کړ: "هلکانو! هلکانو! انځور کړي!" د نریو تیږو تختې هم یوه څنډه کې راغونډې شوې وې چې د کتابونو د کتار په څېر برېښېدې. پر هغو انځورونه کښل شوي وو. سپی، وزه، ونه، کوتره، د انسان سیوری، د غنمو وږی، لمر ګلی او....

سنک وویل: "نو معلومېږي چې له یوه هنرمند انسان سره مخامخ یاستو. دا سپی ووینئ، د یوه استاد کار دی نیمګړتیا نه لري. هماغه سپي ته ورته دی چې ورسره و.

زمري (مانو) وویل: ښه، نو اوس څنګه له دې وېرېدونکي وحشي انسان سره اشنا شو.

بریالي وویل: نن له هغه سره هېڅ کار نه لرو یوازې له خپله راتګه یې خبروو او هغه کوو چې مخکې تر کتنې ورسره انډیوالان شو. له ملګرو څخه یوه په زوره وخندل زمري پوښتنه وکړه: "چا وخندل؟" خندا کوونکي وویل: "ما وخندل ځکه کله چې موږ دا وحشي انسان وینې، نو تېښتې او لا بریالی وایي چې نه مو لیدلی او نه ورسره

مخامخ شوي يو او موږ ورسره باید انډیوالان شو. زما په اند هغه په انډیوالۍ نه پوهیږي. نو موږ باید هغه ونیسو."

بریالي وویل: "نه. موږ هغه نه پیژنو او نه پوهیږو چې څومره متمدن دی او یا څومره وحشي دی. موږ باید هغه ته تر ورنږدې کیدا مخکې له هغه سره انډیوالان شو چې که ویریږي نو ویره یې له منځه لاړه شي او که د جنګ موډ لري نو چې سره پخلا شو."

یوه کس پوښتنه وکړه: "نو دا کار څنګه کیدای شي؟"

بریالي وویل: "په مینه او ښیګڼه، هر څیز او هر څوک چې په دې نړۍ کې ژوند کوي مینې ته اړتیا لري. لکه چې په مینه او پالنه سره موږ یو وحشي حیوان راموو او ورزو نو که موږ هغه وویروو دا کار بیا ستونزه پیدا کوي او که په زور او جنګ له هغه سره مخامخ شو د خطر اټکل کیدای شي. خو که چیرته له هغه سره انډیوالان شو او د هغه هیلې او اړتیاوې وپیژنو ژوند ته یې درناوی ولرو، ښیګڼه ورسره وکړو نو پر هغه به هم موږ ګران شو. موږ کولای شو چې داسې کار وکړو چې هیڅکله له هغه سره خبرې هم ونه کړو او له دې ځایه هم ولاړشو خو هغه زموږ سره د انډیوالۍ

هیله ولري. په نړۍ کې تر میني او ښېګڼې غوره څیز نه شته."

زمري وویل: "سمه ده. ښېخي غوره خبره ده. خیر یوسې برېنیه! ما هم همداسې فکر درلود نو باید اوس ژر تر ژر لاس پرکار شو چې د نن کار سبا ته پاتې نه شي. موږ نه غواړو چې تل دلته پاتې شو."

بریالي وویل: "خپل کار پیلوو. مخکې له دې چې هغه خپلې خونې ته راشي باید خونه یې تر پخوا ډېره ښه منظمه او پاکه کړو او هر څه چې دلته هغه په خونه کې لري باید تر هغو ورته ښه راوړو. انسان چې دومره ښکلی انځورګري وکړي که له کوچنتیابه هم همدلته اوسېدلی وي او ټولنیز ژوند یې هم نه وي لیدلی؛ خو د ښو سامانونو او خوندورو خوراکونو او هر څه په قدر پوهېږي او په هر ډول به زموږ پر ښه نیت ژر وپوهېږي."

تر مازیګره د انسان د زوی خونه یوه داسې خونه شوه چې هوسا ژوند یې پکې کولای شو. پر لمخې باندې یې بوست توشک او تود څادر پروت و. په شاوخوا لوښو کې ډېرته ښوروا ګانې او ښه خوراکونه پراته وو. یوه لرګینه

الماروتې يې راوړه او هغه سامانونه چې خواره واره پر ځمکه پراته وو په هغې کې يې کېښودل. څو وړين او ثرمني ختونه (کميسونه) او پرتگونه يې هم هلته دلته کېښودل. څو پاکتهه مېوه، وچه ډوډۍ او لږ الوگان چې په غوړو کې سره شوي وو هغه يې هم له بېړۍ څخه راوړل په خونه کې يې ورته له يوې لويې هنداري (آينې) او څو بلو کړيو شمعو سره پرېښودل او دوی ترې ووتل. زمري وويل: "هغه اوس هلته مور سره پخلا کېږي."

يوه ملگري په کټ کټ وخندل. زمري وويل: "نو خاندې ولې؟" خندېدونکي وويل: "په زړه کې مې راوگرځېده چې يو ليک هم ورته وکښو او لږې خبرې ورسره وکړو. دا کار ډېر انديوالي جوړوي."

بريالي وويل: "شاباس، له هوشيار سړي ځار شم، دې ته يو ښه وړانديز وايي. دا خبره تر اوسه ماته نه وه ياده. الله دې خير درکړي. تل هڅه وکړه چې د خندا پرځای ښه وړانديزونه وکړې. ليک ليرې لارې رالنډوي."

د خونې پر دېوال يې يو لوی کاغذ وځړاوه او پر هغه باندې يې په لوی ليک د انسان ژوی ته وکښل:

ګرانه ملګریه!

تاسو موږ نه پېژنئ، موږ هم تاسو نه پېژنو. درې ورځې وشوې چې موږ په بېړۍ کې دې تاپووزمې ته رارسېدلي یو، غواړو چې سبا ولاړشو. په دې تاپووزمه کې مو له تا پرته هېڅوک ونه لید. نن هم یوه شوو چې تاسو زموږ پر راتګ خواشیني شوي یاست خو موږ ستاسو بد نه غواړو. که تاسو نه غواړئ چې له موږ سره اشنا شئ، نو تاسې نه کړوو. موږ فکر ګاوه چې ته زموږ همنوع یې نو ښایي چې زموږ اشنایي تاسې ته ګټه ورسوي. که غواړئ چې زموږ سره ښار ته ولاړشئ نو موږ مو په بېړۍ کې له ځانه سره وړلای شو او که تلل نه غواړئ نو موږ تا ته ستا د اړتیا څیزونه درکولای شو او هم ستا احوال که چا ته یې لېږې له ځانه سره وړلای شو. موږ وینو چې تاسو دلته هوسا نه یاست او په دې عقل و پوهه چې لرئ یې باید ډېر نېکمرغه واوسئ. په هر حال که زموږ له لاسه درسره څه ښېګڼه کېدای شي موږ چمتو یاستو. موږ له تاسو څخه هېڅ نه غواړو موږ په دې لیرې پرته تاپو وزمه کې د یوه یوازې انسان پر لیدو هېښ پېښ پاتې شو. نو ستا پر اندېوالۍ

ډېر خوښېږو. يا د دې ليک ځواب راوليکئ او يا ګهيځ په خونه کې پاتې شئ چې سره وغږېږو او راته جوته شي چې څه کار لرئ او که نه ډاډه اوسئ مورږ ستاسي انډيوالان ياستو.

د ببرۍ د ښبتنانو زمري او بريالي لاسليکونه

د ليک په پای کې يې د انسان او حيواناتو څو انځورونه هم وکښل، خندني وويل: ینو بل وړانديز لرم. ويل ووايه. ويې ويل: "ښايي دا کس نالوستی وي." ويې ويل سبا به يې پته ولګي. وې ويل: "ښايي پر بله ژبه وپوهېږي. زما پر اند بايد ليک پر څو ژبو وکښل شي."

بريالي وويل: "شاباس، ډېر ښه وړانديز دی. تر هغه مهاله چې د ټولو د ګړيو ژبه يوه نه وي نو ژباړه وګړي سره ډېر نږدې کوي."

زمري او بريالي هر يو په څو ژبو پوهېدل. نور ټول هم په يوه بله ژبه پوهېدل. ډېر ژر يې ليک په يوولسو ژبو وژباړه او ټول يې پر ديوال وځړول. دا کار چې يې کاوه نو لمر په غړغړو شو. دوی ژر ژر ځانونه غونډې ته ورسول او له ليرې يې ننداره کوله.

مانبام، د انسان زوی له خپل سپي سره کرار کرار راستنېده. د انسان زوی سره خپله لینده او غشي په لاس کې نیولي وو او سپی تږي د مخه روان و. کله چې خونې ته رالنډ شول د مساپرو درک نه و. که وای نو سپي به غپل. کله چې د انسان زوی خونې ته راورسېد د خونې منځ ته په یو ځل ورکتلو سره ووېرېده پر ځای ودرېد. د خونې دننه شمعې له رڼا او نورو بدلونونو څخه ووېرېدلی و؛ خو سپی خونې ته ورننوت او بېرته راووت. بیا په خپله ورننوت او بېرته راووت، شاوخوا یې وڅارله کله چې یې هېڅوک ونه لیدل نو خونې ته ننوت او ور یې بند کړ.

خندني وویل: "یو بل وړاندیز: ورو ورو به ورشو او د وره په درزونو کې به وګورو چې څه کار کوي؟"

زمري وویل: "نه نور نو دا کار ښه نه دی ځکه سپی سمدواره پوهېږي او غاپي نو وېرېږي او ټولې هڅې بې ځایه کېږي. باید هغه آزاد او په کرار پرېږدو. باید بیړه ونه کړو. سبا ته هر څه معلومېږي.

ملګرو یې وویل: "د زمري خبره سمه ده." نو بېرې ته ستانه شول.

د انسان زوی د خونې په منځ کې ودرېد. ټولو څیزونو ته یې وکتل ټول څیزونه بدل شوي وو خو څه وېروونکی څیز پکې نه و. شمعې ډېرې ښکلې وې له ځانه سره یې فکر وکړ: "هماغه چې ګهیځ د غونډۍ پر سر وو، راغلي او دا څیزونه یې راوړي دي. لکه چې د دښمنۍ قصد یې نه شته." لومړنی څیز یې د خوب بستره وازمایله پښه یې پرې کېښوده: "څیز بد نه دی له لمخي غوره دی." څارد یې راواخیست: "هغوی تر ما ډېر ښه جوړ کړی دی." بیا یې لوښي لړ لړ وکتل خواړه یې وڅکل، خوند یې ښه و. بیا یې جامې وکتلې سکیره لکه چې د انسان د بدن قالب جوړ شوی وي. لستوڼي یې هم درلودل. هر څومره چې یې فکر وکړ ویې نه پېژانده چې دا د څه شي پوستکی دی. فکر یې وکړ چې دا یې د وړیو او مالوچو په څېر څیزونو څخه جوړ کړی دی. یو یې واغوست خو لستوڼي یې زنګېدل فکر یې وکړ چې له دې سوریو څخه لاس څرنګه وباسي. ډېر ستونزمن وو، خو چې کله یې واغوست سم شو د هماغو نا اشنا کسانو په څېر وو چې ګهیځ یې لیرې لیدلي وو. بیا یې د دېوال پر مخ کاغذونه ولیدل. لاس یې پرې وواهه یو

يې ترې راواخيست پرې كمبل شوي ليكونه يې وكتل خو پر
څه پوه نه شو. غوښته يې چې ويې خوري خو يو چټي شي
و، لكه مالوچ چې نه يې خوند درلوده او نه جوول كېده.
ليرې يې وغورځاوه. بيا يې يو بل كاغذ وليد او د هغه د
پاى انځورونو ته يې وكتل. انځورونه يې پېژندل:

"دا بابا دى، دا ګوګوشتو دى، دا هم هپ هپ دى. دا
هم په خپله هماغه دى چې زه يې وينم."

هغه حيوانات د هغو په غړونو پېژندل خو ونو چې غړ نه
درلود نو نوم يې نه درلود. انځورونه د هغو له كمبلو
انځورونو ښخه ښه وو. له ځان سره يې فكر وكړ: "نو ګهيخ
چې هغوى راغلي وو هغوى هم زما غوندې دي. زما په ژبه
پوهېږي او كولاى شي چې ما وپېژني." له ځان سره په سوچ
اخته و، چې سترګې يې له اوښكو ډكې شوې او پر ټټر يې
اوښكې ورتويې شوې. نابېره يې دا زړه ته ورولوېده چې:
"ومې موندل، دا زما ميندې او پلرونه دي او زما
همجنسان، خومره ښه دي. ولې تر اوسه نه راتلل او اوس
چېرته دي. نور له هغوى ښخه نه ډارېږم." داسې يې
محسوس كړه چې ټول بدن يې تود شوى دى. نوى احساس

يې پيدا کړي و نو دغه مهال له هېڅا څخه نه وېرېده. د خونې ور يې بېرته کړ. بهر تياره وه، هغه تل له تيارې څخه وېرېده خو اوس نه وېرېده بهر راووت او دوه درې ځله يې چيغې کړې:

"هاو... هاو... هاو..."

غږ يې په تاپووزمه کې غځونې وکړې خو چا ځواب ورنه کړ. له ليرې څخه يو حيوان رمباړه ووهله. د انسان زوی ووېرېده. ژر خونې ته ننوت ور يې پورې کړ او فکر يې وکړ چې دا د هغوی غږ نه دی هغوی دا ډول غږ نه لري. د دې غږ څښتن پېژنم." څرنګه چې ستړی و نو ويده شو.

مساپرو په بېړۍ کې شپه تېره کړه. ګهيځ هماغې غونډۍ ته ور وختل او حالات يې وڅېړل لږ لږ ورنږدې شول. د انسان زوی له خپلې خونې راوتی و. يو جوړه څرمنې جامې يې اغوستې وې، موسکا يې پر شونډو وه. مساپرو وويل: "زموږ ډالۍ يې منلې دي نو ښايي چې انديوال شي. هغوی د سلام په دود خپل لاسونه وخوځول. د انسان زوی خپله لينده او غشي چمتو کړل او بيا يې لاسونه وخوځول. خو د دې کار پر مانا نه پوهېده. کله چې

مساپر ملګري ورنږدې شول سپي بیا وغپل هپ هپ د ګوابښ نښه وه. د انسان زوی بیا هم وویرېد اوله خپل سپي سره څنګل ته وتښتېد.

زمري ورغږ کړ: "اې، مه ویرېږه، موږ دې انډیوالان یو، دښمنان نه یو." نورو هم په څو ژبو دغه غږ وکړ. خو د انسان زوی یوازې د ای په مانا پوهېده. ای هغه غږ و چې په خپله یې جوړ کړی و، کله چې به په سمڅه کې د هوسیو تر څنګ ویدېده نو ای یانې "اخ لاس مې" یا پر ډډه شه.

لږ ودرېد او سوچ یې وکړ چې: "ما خو هغوی په غشیو نه دي ویشتلي نو ولې یې لاسونه دردېږي؟!" پر څه پوه نه شو له ځان سره یې وویل: "عجیبه لیوني دي!" بیا له خپل سپي سره پروني ځای ته ولاړ.

بریالي وویل: "زما پر اند دا انسان په خبرو نه پوهېږي او د انسان ژبه نه شي ویلای."

زمري وویل: "ولې د خندني خبره کېدای شي داسې هېواد وي چې موږ یې په ژبه نه پوهېږو."

سنک وویل: "ښه، راځئ چې ورشو او د خونې ننداره وکړو. هلته په هرڅه پوهېږو."

ورغلل خونه يې وپلټله. يوه اندازه مېوه او خواړه خوړل شوي وو. ليکونه لا تراوسه پر دېوال ځړېدلي وو، يوازې يو يې ځيرې شوی و. خندني وويل: "فکر کوم پر يوه ژبه پوهېده." بريالي وويل: نو ولې يې ځواب نه دی کښلی؟ زمري مښل شوي کاغذ وموند او ويې ويل: "هغه هم دا دی لکه چې د دې د خوړلو نيت يې درلود نو جوتېږي چې نه پر ليک لوست پوهېږي او نه پر ژبه. بلکې په بشپړ ډول وحشي دی ښايي له کوچنتيابه يوازې او تر اوسه يې انسان نه دی ليدلی."

بريالي وويل: "که داسې رښتيا وي نو هر څه چې دلته وينو ټول يې په خپله اختراع کړي دي."

زمري وويل: "د هيښتيا وړ نه ده، د انسان زوی دی او پر هر څه پوهېږي. انسانانو له پخوا راهيسې ټول څيزونه لږ لږ اختراع کړي دي. دا هم د بشر د ژوندانه بېلګه ده."

ټوکي وويل: "نو انځور ګري ورته چا ښودلې ده؟"

زمري وويل: "انځورګري يې هم د هر څيز د څېرې په ليدلو اختراع کړې ده. خو ژبه او ليک يوه داسې اختراع ده چې ټولنه ورته اړتيا لري. انسان يوازې ليک او ژبې ته

اړتیا نه لري او چې اړتیا نه وي نو اختراع هم نه رامنځ ته کېږي. کله چې یوه کوچنی د چا غږ نه وي اورېدلی نو خبرې هم نه شي زده کولای لکه چې کوڼ انسان هرو مرو ګونګ هم وي."

دا خبره ټولو ومنله. زمري وویل: "نو چې دا څرګنده ده نو دا هلک په دې ټاپو وزمه کې خپل ځان هم نه پېژني او په خبرو هم یا نه پوهېده یا ترې هېرې شوې، نو ځکه..."

ټوکي وویل: "نو په همدې وجه کله چې ما وویل، باید هغه ونیول او بیا وروزل شي. څوک چې له ځانه انځورګري، کلالي، لمخي ګري او نور اختراع کولای شي هرو مرو ډېره وړتیا (استعداد) لري او له تنبلو هلکانو په پرته ډېر ژر خبرې کول او لیک لوست زده کولای شي. نو نور لیکونه کنبل او انډیوالي جوړول ګټه نه لري.

له ملګرو څخه یوه وویل: "په موږ پورې هېڅ اړه نه لري، پرېږدئ چې په خپل کار پسې لاړ شو. موږ اوس په خپله هم نه پوهېږو چې خپل ښار ته رسېږو او که نه."

باورچي (آشپزه) چې ورسره وه هغې وویل: "نه، دا خبره مه کوه. هېڅکله د انسان زړه دا نه مني چې د انسان زوی

دي يـوازې پـه يـوه تـاپو وزمـه کې پرېږدي او هغـه دې تـرې لاړشي. هـر ډول چې وي مـوږ بايد هغه وژغورو انسان بايد دومره بې رحمه او بې انصافه نه وي."

بېر رحمـه او بې انصـافه وويـل: "تاسـو ډېر ښـه انسـانان شئ خـپل بچـي لـوی کړئ ويې روزئ. ستاسو د اوو نيکونو لپاره بس دي."

نـورو وويـل: "نـه داسـې نـه ده. فـرض کړه که ته په خپله د دې انسـان پر ځای وای نو آيا چا بايد ستا د ژغورنې فکر نه وای کړی. موږ انسانان يو کړاوونه مو سره ګډ دي. دغه هلک د انسان زوی دی. کېدای شي دا لوی مېړه شي څوک څه پوهېږي. که چېرته ته يوازې په همدې تاپو وزمه کې پاتې وای نو آيـا تا ختيـنه کاسه جوړولای شوه؟ کېدای شي دا سړی په ګانده کې په سل ګونو اختراع ګانې وکړي چې ټولو وګړيو ته يې ګټه ورسېږي. لـه همدې امله وايي: "که چـا د يـوه کـس ژوند وژغـوره لکـه چې ټـول انسـانيت يې ژغورلی وي."

بې رحمه سړي وويل: "سمه ده، زه له خپلې خبرې تېر يم. زه تېروتم. زه هم په دې هلک خواشينى يم. زه بايد هغه له دې بدمرغۍ وژغورم."

بريالي وويل: "ما خو لا له پخوا همدا هيله درلوده، بل کار مې نه و."

زمري وويل: "په دې کې هېڅ شک نشته خو بايد د هغه د نيولو پلمه جوړه کړی شي چې ډېر ونه وېرېږي او ناروغه نه شي."

بيا يې هم خواره او بله شوې شمع په خونه کې کېښودل او ترې لاړل او پرېکړه يې وکړه چې د شپې به راځي او د انسان زوی به نيسي.

د انسان زوی ژبه او فرهنګ

که چېرته د انسان زوی پر ژبه پوهیدای او لیک لوست یې کولای شوای نو هم به یې په خپله ژوند هوسا وای او هم به هغه کسان هوسا وای چې د هغه نېکمرغي یې غوښته؛ خو هغه وېرېده او هېڅ ورته نه شو ښودل کېدای. مساپرو هم نه شو کولای چې ډېر مهال په ټاپو وزمه کې پاتې شي، نو اړ شول چې هغه په یوه داسې چم ونیسي چې روغتیا ته یې ګوابن نه وي.

بې رحمه وویل: "اوس نو څنګه هغه نیسئ چې سپی یې هم ژوندی پاتې شي."

ټوکي وویل: "دا خو دومره خبره نه ده. لکه چې کبان او مرغان په تور (جال) کې نیسي. دی هم د کبانو په تور کې نیسو." ټولو وخندل. ښه وړاندیز و.

مساپر پوهېدل چې په خونه کې د انسان له زوی او د هغه له سپي پرته نور څوک نه شته. د شپې په هماغې تیاره کې راغلل د کب نیونې لوی تور یې د خونې د ور مخې ته لېږ ورلرې وغوړاوه. څلور کسانو د تور دواړه خواوې ونیولې او د دېوال تر شا ودرېدل. د سپي لپاره یې لږه غوښه د تور منځ ته ور واچوله. دوه کسانو څار کاوه. باورچي ښځې ته یې دنده ورو سپارله چې ورشي او د خونې شاته په وروستي ګوټ کې پر ځمکه څو ځله پښې وتړپوي. هغه لاړه همدغه کار یې وکړ څو ځله یې د مېږې د غکلو پېښې "با... با..." وکړ.

سپي په غپا پیل وکړ. د انسان زوی داسې اټکل وکړ چې کوم حیوان پر مېږه برید کړی په احتیاط سره یې دوره تمبه بېرته کړه د ونې څانګه یې په لاس کې وه. سپي یې بهر ته منډه کړه څو ځله یې وغپل خو چې غوښه یې ولیده نو غلی شو. سپی په تور کې ونښت نور نو هېڅ خطر نه و. غشیو او لیندۍ نږدې کار نه کاوه نو د انسان زوی یې په اسانۍ سره نیولای شو. د سپي غپا چې غلې شوه نو نور خطر نه و.

د انسان زوی له وره پښنه رابهر کړه. دوو کسانو د واره له ښنډو څخه پر هغه برید وکړ هغه یې له دواړو متو ونیو او ویې ویل: "اها مه وېرېږه موږ ستا انډیوالان یاستو." د انسان زوی په خپل فکر د "اها" پر مانا پوهېده. توکي‌په کټ کټ وخندل. چاره سمه شوې وه. له خندا سره د انسان د زوی غږ بلد و. خندا د هغه خندا ته ورته وه. لږ یې زړه ډاډه وموند خو وېرېده. باورچي هم لاټین راوړ. ټول راغلل او د انسان د زوی مخې ته ودرېدل. هر یوه څه ډاډ ورکړ. هغوی هڅه کوله چې ورو ورو ورسره خبرې وکړي. دلته یوازې یاست؟ له کله راهیسې دلته یاست؟ موږ ستا پر لیدو ډېر خوښ شو. موږ ستا انډیوالان یاستو. له هېڅ شي مه وېرېږه." دا خبرې په څو ژبو کېدې. د انسان زوی په یوه خبره هم نه پوهېده، خو د لوربیني احساس یې ترې کاوه.

غږونه ډېر ښه وو، ورو وو، د رښتني، وېروني او دښمنۍ څه نښه پکې نه وه. د ټولو جامې هم سره ورته وې. د هغه نوې جامې هم د هغوی په څېر وې. د انسان زوی بې پامه نیول شوی و. کله چې پر ځان پوه شو نو له هغو څخه یې د ځان د خلاصولو هڅه کوله خو امکان یې نه درلود. خپل

غړونه يې وکړل. د رېښتې او دښمنۍ غړونه وو، چې ټول يې له حيواناتو څخه زده کړي وو. مساپر پوه شول چې هغه د حيواناتو له غړونو پرته پر نور څه نه پوهېږي. زړه يې پرې وسو. باورچۍ اوښکې تويولې خو د نورو پر شونډو موسکا خپره وه او خبرې يې نه کولې او خبرو کولو ته ګټه درلوده؟

باورچۍ منډه کړه د حلوا يو قاب يې ژر راوړ او د انسان د زوی مخې ته يې کېښود. باورچۍ ځيرکه ښځه وه. لومړی يې په خپله لږه حلوا وخوړه، غوښتل يې چې د انسان زوی يې ووينې. بيا يې د زمري او بريالي په خوله کې هم يوه يوه مړۍ ورکړه هغوی د انسان د زوی مټې نيولې وې. هغوی هم حلوا وخوړه. بيا يې د انسان زوی په خوله کې هم يوه مړۍ ورکړه خو هغه ونه خوړه او تو يې کړه. حال يې ښه نه و. وېرېده. ورياده شوه چې هغه به هم کوترې همداسې نيولې نو دانې ورکول تل د ښه نيت څرګندويې ده. که يې لاس ورته ايله کولای نو تښتېدلی شو. خو هغوی ځواکمن وو او ده ترې خپل لاس نه شو خلاصولی. کله چې پوه شو چې چاره نه شته نو غلی شو او

نوره يې د تېښتې هڅه ونکړه. د هغوی جامو ته يې وکتل د هغو څېرو ته ځير شو. ټول هغه ته ورته وو. هغه تر دغه مهاله داسې څېرې يوازې په هينداره کې ليدلې وې يانې خپله څېره. د هغوی په بدن وړې نه وې. لکۍ يې هم نه درلودې، ښکروته يې هم نه وو. خو سوې! "که د دوی ټول ځيزونه زما په څېر دي نو ولې سوې لري." د هغوی بوټانو ته يې وکتل.

ټوکي په خندا شو: "لکه چې زموږ له بوټانو وېرېږې او داسې ګڼې چې موږ سوي لرو." سمدواره يې پښې له بوټانو او جورابو لوڅې کړې او ويې ويل: "وګوره!" ويې غوښتل چې د انسان زوی ته بوټان ور په پښو کړي خو هغه پرېښنبود.

نور ملګري پوهېدل چې له يوه داسې انسان سره مخامخ دي چې پر ژبه نه پوهېږي نو بايد ټول شيان هغه ته په نړيواله ژبه (د اشارو په ژبه) ورزده شي. ښه وو، چې سپی غلی شوی و او د ښېګڼې پر قدر پوهېده. د انسان زوی هم ځير و، چې سپی غلی دی نو فکر يې کاوه: "نور خطر نه

شته." ځکه سپي به په خطر ډېر ژر پوهېده او غپل به يې خو اوس يې تر ځنګ سپی غلی ولاړ و.

مساپرو هغه هماغسې له لاسو نيولی و، خونې ته يې ننويست او د پښو پر سر ټول ګرد کېناستل. هغه هم په وېره سره کېناست. له لاسو يې نيولی و. د خوړو لوښي يې په منځ کې کېښود. زمري باورچي ته وويل: "ډېر پوهه دې برکت شه. تر هغې بل غوره کار نه و، چې د دې هلک د ډاډينې لپاره دې لومړی په خپله حلوا وخوړه او بيا دې موږ ته په خولو کې راکړه. بيا هم هماغسې وکړه."

هره يوه بل ته په خوله کې يوه مړی ورکړه. ټوکي وويل: "دا ځل بايد زه خپل زوی ته حلوا ورکړم." ويې خندل او د انسان زوی ته يې په خوله کې مړی ورکړه. بيا يې هم ونه خوړه. ټوکي ته يې ډېر ډېر کتل. د هغه د خندا غږ و، چې تر هر څه يې ډېر مانا درلوده. ببخي د هغه د خندا په څېر وه. هغه هم وخندل. سنک وويل: "لکه چې پخلا کېږي. زما په خيال لکه چې غواړي په خپله حلوا واخلي." لاس يې ورته ايله کړل. لوښی يې ورته مخې ته کېښود. ډېر فکر يې وکړ. هغه ته يې کتل. پرون يې هم خوړلې وه نو پوهېده

چې ښه خوندوره ده. اخر يې يوه مړۍ راپورته کړه، په خوله يې کړه. يوه مړۍ يې د ټوکي په خوله کې هم ورکړه. ټوکي وويل: "له لاسو دې ځار. بريالى اوسې." ټولو وخندل.

د انسان زوى اشنا شوى و او شخړه پاى ته رسېدلې وه. ټولو د حلوا په خوړلو پيل وکړ. ټوکي غوښتل چې ټوکې ټکالې وکړي. په ځلوري ودرېد او ويې ويل: "با... با..." بيا کېناست او ويې ويل: "مياو... مياو..." ښځي د مېږې او پيشو د غږونو په څېر. ياني چې زه بيا خواړه غواړم. دې ډول خبرو اغېز هم کاوه، د انسان زوى بيا هغه ته حلوا ورکړه. نور نه وېرېده. نور نو سم او ښه يو د بل پر ژبه پوهېدل، خو په ټولو څيزونو نه.

زمري باورچى ته وويل: "اوس هغه شربت راوړه." له لوى لاسي بکس څخه يې د شربت څو بوتلې راوويستې او په يوه ښيښه يي کاسه کې يې شربت واړاوه. هر يوه له دغې کاسې څخه څه شربت وڅښه بيا يې د انسان د زوى مخې ته کېښود. هغه هم د هغوى په څېر کانه وکړه. کاسه يې په دواړو لاسو ونيوله او ټول شربت يې پر سر راواړاوه، او څرګنده وه چې خوشاله دى. بايد سمدواره وويل شي چې

هغه ته په ورکړي شربت کې يې د خوب درمل اچولي وو.
هغوی داسې اټکل کړی و، چې که لږ شربت هم وڅښي نو ژر ويدېږي نو بيا دوی کولای شي چې په اسانۍ يې ښېرۍ ته ورسوي او تر ګهيځه ارام وي، خو هغه لا ټول وڅښه.

څو دقيقې وروسته ويده شو. ښځې (باورچۍ) هغه په غېږ کې ونيو او ويې ويل: "اوس يې نو مورولي زما پر غاړه. تر اوسه کارونه ډېر ښه ترسره کېږي." ښېرۍ ته راستانه شول. سپي هم ورپسې و.

په ښېرۍ کې يې حمام تود کړ. مور خوښولي مېلمه ومينځه. د سر وېښتان يې ورته لنډ کړل. نوکان يې ورته پرې کړل. ښې پستې جامې يې ور واغوستې په ښه ارامه خونه کې يې يوازې ويده کړ. سپي يې هم ورسره په هماغې خونه کې پرېښود. هغه او سپي ته يې لرې اوبه او خواړه جلا جلا چمتو کړل. ور يې ورپسې راپورې کړ او کړکۍ يې بېرته پرېښودې. هغوی په خپله خپلې خونې ته لاړل او په خبرو اترو بوخت شول.

د انسان زوی په اړه پر ډېرو شيزونو پوهېدلی و؛ خو ډېر څه لا ناڅرګند پاتې وو. زمري وويل: "نور نو ښېشکه

پوهېږو چې دا هلک له کوچنيتيابه په دې تاپو وزمه کې پاتې شوی او هر څه چې يې ياد کړي په خپل خدای ورکړي پوهه يې ياد کړي او په همدې ډول لوی شوی. څرنګه چې ورسره همژبي نه و او له حيواناتو سره اوسېده نو ژبه ترې هېره شوې."

سنک وويل: "هو، ښايي. ما هم يو کوچنی ورور درلود، چې څوارلس کاله پخوا له خپلې زانګو سره په سمندر کې ورک شوی دی.

بريالي پوښتنه وکړه: "څو کلن و؟"

سنک وويل: "يو کلن و."

ټوکي وويل: "نه ښايي، چې يو کلن کوچنی دې داسې يوې تاپو وزمې ته راشي او ژوندی دې پاتې شي."

ښځې وويل: "د الله په کارونو کې څه تعجب نه شته."

بې رحمه وويل: "سره له دې. داسې نه ښايي. فکر وکړئ يو کلن کوچنی ودرېدای نه شي او له شيدو اودو او ژړا پرته پر بل هېڅ کار نه پوهېږي. او بيا لا د سمندر غاړه او يوازېوالی... خو په هر ډول، که الله وغواړي نو زموږ عقل

پرې کار نه کوي، لټوو یې. ستاسو د دغه کوچني ورور په بدن کې هېڅ نښه نه وه؟"

سنک وویل: "ولې نه، درلوده یې. فکر کوم چې مور ته مې یاده ده. هغه وایي چې هر کله او هر چېرې خپل زوی ووینم، پېژنم یې. مینډې خو همداسې وي."

زمري وویل: "ښه، وروسته به معلومه شي. په سمندر کې خو داسې پېښې ډېرې وي. مور تر اوسه په سمندرونو کې پاتې شوي نا اشنا کسان ډېر لیدلي. نو اوس که دا هلک هماغه وي یا نه وي پروا نه کوي، انسان خو دی."

سنبک وویل: "خو که دا وي او الله ژغورلی وي نو یو وېروونکی خیز دی، د حیوان غونډې یو وحشي هلک."

بریالي وویل: "هېڅ وحشي نه دی. تر شپږو میاشتو وحشي دی. بیا هر څه یادوي نو حیوان ورته نه شو ویلای. کوم حیوان په خپل فکر سره خونه جوړوي؟"

یوه کس ورغبرګه کړه: "کارغه، کوتره، او د ګبینو مچۍ."

بل یوه وویل: "مېږیان."

بریالي وویل: "الله دې خیر کړي دوه کسه چوپ وو، هغوی هم په خبرو پیل وکړ. له دې وروسته ستاسو د خبرو وار دی. سمه ده چې ځینې حیوانات د ځان لپاره ځالې او استوګنځي نه جوړوي، خو له خپلې پوهې او غریزې سره سم او له هېڅ نوښت څخه کار نه اخلي. د حیواناتو کومه کورنۍ کولای شي د نورو د غږونو پېښې وکړي؟!"

چوپ کسانو وویل: "بېزوګان او توتیان."

بریالي وویل: "ښه نو کوم حیوان پوهېږي چې د خپل خوب په ځای کې متیازې او بچي ونه کړي؟"

ویې ویل: "پیشو."

بریالي وویل: "خو هېڅ حیوان په تېرو او غشیو ویشتلو نه پوهېږي."

ویې ویل: "ولې، بېزو او یېږ کولای شي."

بریالي وویل: "خو هېڅ حیوان په دې نه پوهېږي چې په کور کې خواړه زېرمه کړي."

ویې ویل: "مېږیان او موږکان."

ویې ویل: "نو کوم حیوان کولی شي چې خواړه ترلاسه او نورو ته یې ورکړي؟"

ويې ويل: "د خپلو بچيانو لپاره ټول حيوانات همدا کار کوي."

بريالي وويل: "هو، خو د خپلو بچو لپاره د نورو لپاره نه. رښتيا کوم حيوان کولای شي پر خپله پوهه نور حيوانات رام کړي، د خپلې خونې بلې اخېړ کړي، جامې جوړې کړي، اور بل کړي، ډوډۍ پخه کړي، په ځمکه کې غلې دانې وکري، خاورين لوښي جوړ کړي، ليندۀ او غشي اختراع کړي او تر ټولو لا زيات دا چې د ځيزونو انځورونه وکاږي او د تيږو له تختو څخه ځان ته کتابتون جوړ کړي؟"

ټوکي وويل: "... او ماته په خوله کې حلوا راکړي!"

ټولو وخندل. زمري وويل: "ښه نو له همدې امله موږ هغه له حيواناتو راجلا کړ."

بريالي وويل: "زما موخه دا ده چې سنک دې هلک ته په سپکه سترګه ونه ګوري او ونه وايي چې حيوان ته ورته دی. که تور دی نو لقمان عليه السلام هم تور و. خو د لقمان عليه السلام پوهه په ټوله نړۍ کې اوخاره (مشهوره) ده. که پر ليک لوست نه پوهېږي نو ښايي چې آدم عليه السلام هم پر ليک لوست نه پوهېده. ښايي هر څوک يوه

نیمګړتیا ولري، خو د انسان ماغزه باید سم کار وکړي او بنایي چې وروسته همدا هلک د خپلې کورنۍ د ویاړ لامل شي."

توکي وویل: "فکر کوم بریالی غواړي چې دا هلک په ژوی ولي ونیسي ځکه یې ډېر ملاتړ کوي."

بریالي وویل: "نو څه خبره هغه دي له همدې اوسه زما ژوی یا د سنګ ورو وي..."

شخړه نږدې پای ته رسېدونکې وه خو بې رحمه راغبړ کړ: "چې د انسان ژوی پر هر څه پوهېږي نو ولې یې ژبه او لیک اختراع نه کړل؟"

بریالي وویل: "ولې یې اختراع نه کړ؟ ځکه چې اړتیا یې ورته نه درلوده. دا ځېرونه انسانانو د زرګونو تجربو او اړتیاوو په پایله کې ترلاسه کړي دي. که دا هلک هم زرګونه کال ژوندی وي او یوازې هم نه وي نو ټول ځېرونه له سره جوړوي. هغه اوس په ژبه هم پوهېږي. خو د حیواناتو غږونه یې چې اورېدلي نو پرې پوهېږي پر لیک هم پوهېدای شي خو انځورونه او نقشې چې یې لیدلي نو پرې پوهېږي. لکه چې موږ څه اورېدلي او لیدلي او ډېر اړتیا

ورته لرو یاد کړي مو دي. ولې ته پر عربي ژبه نه پوهېږې،
ولې سنک پر جاپانی ژبه نه پوهېږي. ولې زه پر دریو ژبو
پوهېږم. او پر نور لسو نه پوهېږم. ولې زما پلار پر لوستلو
پوهېږي؛ خو پر لیکلو نه پوهېږي؟ دا هر څه په اړتیا او په
روزنې یادېږي. یو کوچنی په شپږو میاشتو کې خبرې زده
کوي او په لږ وخت کې لوستل او لیکل. هغه هم د انسان
زوی دی نو یادوي یې. وروسته هم بنایي پر ډېرو څیزونو
پوه شي او جوړ یې کړي چې زه او ته پرې نه پوهېږو."

ټولو وویل: "سمه ده" هغه شپه خوشاله ویده شول.

سبا ګهیځ د انسان زوی راویښ شو څه ګوري چې په یوه
نا اشنا ځای کې دی او ډېر اسانتیاوې لري. خو ازاد نه دی.
او له اشنا څیزونو څخه یوازې سپی یې ورسره دی. پاڅېد
د هینداري له شا څخه یې د سمندر، ټاپو وزمې، د بېړۍ د
وره او د ځنګ د خونې ننداره وکړه. ورونه پوري وو، او
مسافرې یې ځنګ ته په خونه کې ویده وو. نه پوهېده چې څه
وکړي. وږی و، لږ خواړه یې وخوړل او بېرته د خوب پر
تخت کېناست. ځان ته یې په هینداره کې وکتل په خپله
نوې بڼه خوشاله و. د هغه پر اند هر څه تر پخوا غوره او

ښکلي وو؛ خو زړه یې په کوترو، وزې، خونې او صحرا پسې ټوپونه وهل او اوس بندي و. فکر یې کاوه چې: "هر څه چې دي خو دلته وګړي بد نه دي زما په خبر دي. یو داسې څه هم وایي چې زه پرې نه پوهېږم او که یاد یې کړم نو بیا خو ډېر ښه کېږي. اوس څنګه دوی وپوهوم چې سهار دی او باید راویښ شي." هغه په خپله به سهار د بانګي پر اذان راویښېده. په خپله یې د بانګي یو اذان وکړ مساپر راویښ شول. په بېړه کې یې بانګي نه درلود خو پر حال پوهېدل. د انسان زوی هغوی لیدل، جامې یې واغوستې. په هماغې خونې کې یې پر لوټه په طشت کې مخ او لاس ومینځل. ویې ویل پرېږدئ چې هغه هم ننداره وکړي او تر هر څه د مخه د ژوندانه اداب زده کړي. بیا یې ور بېرته کړ او د انسان زوی یې خپلې خونې ته راوست. د سهارنۍ تر خوړلو وروسته یو ځل بیا ټاپو وزمې ته ولاړل. د هغه سامانونه یې راټول کړل چې څه شی هغه خوښي نو بېړۍ ته یې یوسي. د انسان زوی غوښتل چې یو دانه پوخ الو او د غوښې یوه پخه ټوټه چې هلته وه وخوري، خو خوښ یې نه شو نو تو یې کړل. دوه ځله یې ښه خواړه خوړلي وو نو بد

اوړی شوی و. د ببړۍ خونه یې لیدلې وه. نور نو یې ختیني کوډلې خوند نه ورکاوه. هغه یې په خپله کوډله کې ایله کړ. نور نه تنبتېده. له هغه سره روان شول او د ځنګله تر ځنډو پوې ورسره ورسېدل. د هغې ږ ند کوچنۍ ټاپو وزمه وه. ځینې ښه ځېزونه یې درلودل. خو د استوګنې ځای نه و. هلک یې آزاد پرېښود ویې لیدل چې نور د تېښتې هوډ نه لري. جنس خپل جنس پېژندلی و نسان هېڅکله انسانان نه پرېږدي چې لاړشي او له حیواناتو سره ژوند وکړي. هغه یوازې له هغو ځخه ښېګڼه لیدلې وه.

مساپرو وویل: "نور کارونه لرو، ځئ چې ځو." د انسان زوی ته یې ببړۍ وروښوده. هغه پوهېده چې هغه ځای ښه هوسا و او اوس یې ډېر ښه ملګري موندلي دي.

ببړۍ ته راستانه شول. ببړۍ روانه شوه. له همدغې ورځې ځخه یې د خپل ګونګ مېلمه پر روزنه پیل وکړ. د انسان زوی ته د خبرو یادول څه اسان کار نه و. په خپله به یې د هغه په مخکې خبرې تکرارولې او هغه به یادولې. هم به پرې پوهېده او هم به یې خبرې کولې.

زمري به بريالي ته وويل: "څه" هغه به لاړ. بيا به يې ورته وويل "راځه" هغه به راته. او ورته وبه يې ويل چې: "کېنه" هغه به کېناسته. او په کلچو به يې شمېر ورياد ول: "يوه، دوه، درې، څلور..."

د هغه وخت په اوږدو کې چې ببرۍ په اوبو کې وه هغه هر څه ياد کړي وو او خبرې يې کولای شوې. خو لا تر دغه مهاله يې خپل ټول فکر او احساس نه شو څرګندولای او خپلې ځان پېښې يې نه شوې په ګوته کولای. دا کار يې هم څه مهال وروسته ياد کړ. لکه چې نور کوچنيان يې يادوي.

کله چې ملګري مساپر خپل ښار ته ورسېدل د سمندر د توپان، ټاوزمې ته د ببرۍ د رسېدو او د انسان د زوی د ژغورلو کيسه يې وکړه. د انسان زوی د بريالي په کور کې و. سنک هم په خپل کور کې د خپل سفر کيسه وکړه. نابېره يې د مور تلوسه شوه او ويې ويل: "زه بايد هلک ووينم. همدا نن، همد اوس. زړه مې وايي چې دا زما زوی دی."

اوس اڅک نږدې بوډا و، مېرمن يې هم څوارلس کاله لا نوره هم بوډۍ شوې وه. زوی يې سنک ۲۹ کلن او لور يې چې د زمري مېرمن وه ۲۶ کلنه وه دوی ښه ژوند درلود.

د مـور پـه ټینګار ټـول د بریالـي کـره ورغلـل. هلـک یـې ولـید. مـور وویـل: "هرڅه یې بدل شوي خو سترګې یې اشنا دي. مـور لومړنـی دا کـار وکـړ چـې د هلـک کـین اړخ یـې وکـوت. هغې تـه یـاد وو چـې پـه کوچنتیابه کې یې کین اړخ ټپي شـوی و او نښـه یـې پـاتې وه. د هلک د ښی غوږ تر شا هم یو تور ټکی و. له موره هېڅ شیز نه هېرېږي او خپل بچی تر ټولو ډېر ښه پېژني.

مـور لـه خوشالۍ څخه چیغه کړه خـپل بچی یې په غېږه کې ونیو.

- "زمـا زویـه!، زمـا د سـترګـو تـوره!، زما کوچنوټی، چېرته وې؟"

بچیانو یې ورمنډه کړه مور یې چې له خوشالۍ څخه بې سده شوې وه په سد یې کړه. ټولو له خوشالۍ څخه ژړل. بیا یې لړې لړې خبرې سره پیل کړې.

مـور وویـل: "زه پوهېده چې بچی مې ژوندی دی. ما هغه الله ته سپارلی و."

PROPERTY OF ACKU 11315

PROPERTY OF ACKU

زوی (لالک) یې وویل: "زه هم پوهېدم چې مور مې شته، الله مې شته. هلته په ډېرو ځیزونو نه پوهېدم خو پر دغو دوو ځیزونو پوهېدم."

بیا یې سره ټولې ځان پېښې وویلې. اځک مانوګرت پرېښی و او په ښار کې یې کار کاوه. د اځک زوم زمری او بریالی د ببرۍ په چارو کې سره ګډ وو. سنک د اځک مشر زوی د ببرۍ جوړولو په فابریکه کې کار کاوه نو بیا به یې ویل: "زه وم چې لاړم او خپل ورور مې په ټاپو وزمه کې وموند."

بریالي زوی نه درلود. د لالک کورنۍ دا پرېکړه وکړه چې هغه دې د بریالي کره د زوی په توګه پاتې شي. ټول په دې پېښه خوشاله وو. هلک مدرسې ته ولاړ درس یې ووایه او د خپل مهال نوموړی عالم شو.

ډېر ناوخته یې زده کړې پیل کړې وې خو هغه مینه چې له زده کړې او پوهنې سره یې درلوده د هغه لاره یې رالنډه کړه.

د زده کړو لپاره هېڅکله نه ناوخته کېږي خو مخکې او پر وخت زده کړه ډېره ښه وي.